

د استاد احمد علي کوهزاد دیاد
او دلمیږدو ۱۰۰ کلنه جشن په وياړ

# انسانستان

(دمقالوټولګه)

ليکوال:
**محمد انور نوميالی**

دبشير اخګر په زيار

www.sikaraam.com

1

# انسانستان

لیکوال

کاندید اکادمسسین محمد انور نومیالی

د بشیر اخگر
په‌زیار

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | **انسانستان** |
| لیکوال | : | **محمد انور نومیالی** |
| | | **د بشیر اخګر په زیار** |
| وډون او سمون | : | **م . ن . ازاد** |
| خپروونکی | : | پښتو ادبي غورځنګ، کوټه |
| د خپرونو لړ | : | ۶۱ |
| کمپوز | : | **فدا محمد محسني** |
| چاپ شمېر | : | ۵۰۰ |
| چاپ کال | : | ۲۰۱۳ م |
| چاپ ځای | : | یونایټډ پریس کوټه |


www.sikaraam.com

# دغورځنګ یادښت

پښتو ادبي غورځنګ د اداري تر لس کلن جشن "چي د لر او بر و پښتنو لیکوالو د استازیتوب په ګډون د تېر کال ۲۰۱۲م د جون د میاشتي پر نهمه نېټه باندي ولمانځل شو" وروسته د اداري له خوا د خپرېدونکي مجلې "لمبې" د لس کلنۍ جشن لمانځني په ځنګ کي د درانه تاریخ پوه اروابناد "استاد احمد علي کوهزاد" د یاد غونډي تابیا کړې ده او دا ځل یې د جشن او یاد غونډي په ویاړ د چاپېدونکو کتابونو په لړ کي یو داسي کتاب "انسانستان" هم ځای لري، چي لیکوال یې "اروابناد استاد محمد انور نومیالی" په وجودي بڼه له موږ سره شتون نه لري.

پښتو ادبي غورځنګ دا په پام کي لري، چي ځیني داسي استادان لیکوالان چي اثار یې په خپل ژوند کي له چاپه پاته شوي دي، د پښتني ټولني په ملاتړ تر چاپه ورسوي، ولي چي موږ د پښتون تاریخ د پېړیو په اوږدو کي داسي ډېري بېلګي لرو، چي تل مو په تېر پسې د ارمان لاسونه موږلي دي او ډېر ي درنې علمي ادبي او تاریخي شتمنۍ مو له لیکوالو او پوهانو سره سمي تر خاورو په دې نیامت لاندي کړي دي، چي خدای مه کړه، د سپکاوي لامل یې نه شو، دا ځکه چي موږ د داسي ارزښتونو له ارزښته ناخبره پاته شوي یو. چي داسي اثار د قامونو د سا هومره ارزښت لري او د هم داسي بې ارزۍ له کبله ډېر داسي قامونه شته. چي د ژبي له مړ کېدا سره سم مړه شوي او له منځه تللي دي. اوس هم ځیني پوهان د داسي اند ښنو څرګندونه کوي، که کومه ژبه علمي شتمني و نه لري، یا د خپلو پوهانو درنښت و نه پېژني، هغه قامونه به د ژبي له مرګ سره سم له منځه ځي، د پښتني ټولني د هم داسي ارزښتونو په پام کي د نیولو او درناوي په هیله"

**پښتو ادبي غورځنګ کوټه پښتونخوا**

www.sikaraam.com

۴

# لړلیک


د سریزي پرځای ........................ 5
انسانستان ........................ ۸
د ثور باچاګښتي ........................ ۱۱
د ښځي او نر ډیالکتیک ........................ ۳۴
خرکېږو ........................ ۳۸
توکم پېژندنه ........................ ۵۴
له یوناني ژبي سره د پښتو خپلوي ........................ ۶۳
د ملي خپلواکۍ ورځ ........................ ۷۲


www.sikaraam.com

د خوشال قدر که اوس پر هیچا نشته
پس له مرګه به یې یاد کا ډېر عالم

## د سریزي پر ځای

زموږ د هیواد پیاوړی متفکر، محقق، ژباړونکی، لیکوال او شاعر اروابناد کاندید اکاډمیسین محمد انور نومیالی د ملامحمد نعیم زوی د ۱۳۶۰ ه ش کال د سلواغې پر ۲۹ مه (د ۱۹۲۸ میلادي کال د فروري پر ۱۹ مه) په کندهار کي زېږېدلی، نیکه ګان یې د ارغستان د معروف (ماروپ) له سیمي څخه کندهار ښار ته راکډه شوي وو. پلار یې حاجي محمد نعیم د کندهار ښار په چارسو کي دوکان کاوه، ملا طبیعته سړی وو.

محمد انور نومیالي خصوصي تحصیلات او دیني زده کړي د دستار تړلو تر درجې پوري بشپړي کړي او په ځواني کي یې د یو خیرک ملا په توګه پېژندل شوی وو. له اروابناد مولوي عبدالغفار بریالي سره یې د ملایي د وختو یارانه وه. خو حوادث داسي راغلل، چي ملا نومیالي د ملایي لنګوټه لېري وغورځول او په ذهني لحاظ د فلسفې او عصري علومو خواته یې مخه کړه او د خپل ذاتي نبوغ په زور یې پراخه مطالعه وکړه او د مترقي فلسفې، مترقي ټولنیز علوم او مترقي ادبیاتو سره لاره یې ځان ته وټاکله، خارجي ژبي (روسي، انګلیسي، عربي او ډنمارکي) کي د مورنۍ (پښتو) او ملي (فارسي) ژبو په شان

www.sikaraam.com

زدکړې او د دې ټولو ژبو څخه یې خورا ډېري پخې، درنې او علمي ترجمې په پښتو ژبه واړولې.
د اروابشاد نومیالي فرهنګي او علمي فعالیت د کندهار له طلوع افغان او د کندهار له مجلې راپیل سو او ځوانانو ته ترزده کړي وروسته بیا د ۱۳۵۷ ه ش کال د ثور د اوومي نه وروسته د بیهقي د کتاب چاپولو د موسسې د مشر په توګه یې کار پیل کړ او په ۱۳۵۸ ه ش کال کي دافغانستان د علومو د اکاډمۍ غړیتوب ترلاسه کړ او په د غه اکاډمي کي د ختیځ پېژندني (شرق شناسي) د څانګي علمي غړی او وروسته د دغه څانګي (انستیټوټ) مشر و ټاکل شو، ترڅو چي د کاندید اکاډمیسین علمي درجه یې ترلاسه کړه.
اروابشاد نومیالی د ۱۳۵۷ ه ش د ثور د اوومي نه وروسته خپل فرهنګي او علمي کارته زور ورکړی او د ټولنیزو علومو په باره کي یې علمي کتابونه وکښل، په دې باره کي لیکي {... بیانو په ۱۹۷۹ کال (۱۳۵۷ ه ش) کي د ثور له انقلابي ډلي سره د سرکاري (دولتي) زندوبند نهادونه ویجاړ شوه... خپل مات قلمونه مي له نوي سره پتلیس کړه او قلمدانونه مي د سپېرو دوړو له ابدي محکومیته څخه راوایسته، د سپیني بږیري په زاړه عمر کي مي د برندي ځوانۍ فرهنګي روحیه راوخوځېده او تر پخوا له په زیات جدیت د یو شمېر مسائلو په د قیقه څېړنه او کره پلټنه لګیا شوم...}
د استاد نومیالي چاپ او ناچاپه لیکني او ژباړي:
۱) د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي

www.sikaraam.com

۲) د کوډو سرنوشت د علمي پلټني په رڼا کي
۳) تخڼونه یا چستو یښکي (باندار)
۴) هغه پلا او دا پلا (سفرنامه)
۵) دافغانستان داتنوګرافي په باب یوه پلټنه
۶) دوېش سیستم
۷) انسان او تکامل (ژباړه)
۸) الف لیله یا زر او یوه شپه
۹) دافغانستان تو کمونه
۱۰) دمیتودولوژي تاریخ د (ا. ژوکوف اثر)
۱۱) هند دلومړي کمونیزم څخه ترمرئیتوب پوري (دشریپادامریت ډانګي، هندي څېړنپوه اثر)
۱۲) د پښتو ادبیاتو د تاریخ تیوریکه طرح
۱۳) د اباسین او هلمند حوزې د ټولنیزو - اقتصادي څېړنو مقدمه
۱۴) دملي مسئلې په حل کي زموږ انقلابي لاره
۱۵) زما د پوهني حدود دحقیقت په مخ کي

په آریانا مجله کي په لسهاوو علمي، ټولنیز او تیوریکي مقالې.
استاد محمد انور نومیالي د ۱۳۸۵ ه ش کال دمېزان پر ۱۲ مه (د ۲۰۰۶ کال د اکتوبر پر ۴ مه) په ډنمارک کي د ۷۸ کلونو په عمر دزړه د حملې له کبله په حق ورسېدی. روح دې ښاد وي. د دې کرښې لیکونکی ویاړ چي اروابناد کاندید اکاډمیسین استاد محمد انور نومیالی د نړدې څخه لیدلی او دهغه دعلمي او فرهنګي نصیحتو څخه یې لاربښووني اخستي دي او دغه ټولګه یې دهغه دفکر په یاد کي ترتیب کړې ده.

بشیر اخګر

www.sikaraam.com

# انسانستان

ممکنه ده، چې انګلستان به موږ پر اوږېدلی وي، هندوستان دغسي، عربستان هم دغسي او يوبل ،،ستان،، هم دغسي. خو نن زموږ خوښه ده، چې تاسي له (انسانستان) څخه هم خبر سی او ديوې مختصري جغرافيې په ساحه کې دهغه حدود ووينئ. د (انسانستان) جغرافيه البته داسي نه ده، چې د ملتو، نژادو، اوبو، غرو، خطوطو او ملکيتو په توسط تشکيلېږي، بلکي دغه جغرافيه هغه فاصلې تشکيلوي، چې د انسان او د طبيعت عالم يې سره جلا کړي دي. (انسانستان) په ټولو اصولو کي له دانورو (ستانو) سره فرق لري. مثلاً انګلستان هغه دی، چې يوازي دانګليسانو منافع پکښي ساتلي وي او بل چاته که يې ضرر ورسېدی، خو واوا، که نه ګټه خويې په هيڅ ډول نه ور رسيږي، مګر انسانستان هغه دی چي په ده کي د ټوله انسان او د ګرده بشر منافع خوندي کيږي. په دانورو ،،ستانو،، کي خو ژوند ديوې دعوې نوم دی، له بله سره او ديوه جنجال نوم دی له ځانه سره خو په (انسانستان) کي نه څوک پرچا د تعرض فکر لري او نه څوک د چا په مقابله کي ځان حمايه کوي. هلته په هرځای کي و هيچاته هيڅ څوک خارجي نه ايسي، بلکي هر ځای دسړي خپل کوردی. که د چا سره د (انسانستان) اراده وي نو په دې خبره پوهېده هم ورته په کار دي، چي ځني عادات چي په نورو ،،ستانو،، کي د خلګو

www.sikaraam.com

شخصیت تشکیلېدی هلته ډېر قیمت نلري او نه دچا په درد خوري، بلکي که له چا څخه صادرسي نوښایي چي د (انسانستان) په شفاخانو کي ترمعالجې لاندي سي، ځکه که د چا خیال وي، چي هلته دي یو انسان پرېل یوه بابایي وکړي او آغایي دې پر وروغوي، خو داسي کار هلته کورتې ممکن نه دی، او که یو انسان دبل په مقابل کي ځان اصل ګڼي او هغه بل بدل ورته ایسي نو داسي بدل خلګ هم هلته ژوند نسي کولای او نه دي موجود او که څوک دبل په عزت کي قدرت ږغوي خو داسي همه غرضه خلګ هم یو انسان غواړي چي بل یو دځان مریي وساتي نو داسي ساهوګان هم هلته نسي چلېدای او که څوک غواړي دبل دلاس په حاصلولو کي ځان چاغ کړي نو داسي تجارت هم هلته په (انسانستان) کي کور نلري، او که څوک غواړي چي پر بل باندي سرلوړونیسي داسي ناقابل سرونه هم هلته نه پیدا کیږي، او که څوک میل لري چي بل ته ځان تیټ کړي خو داسي تیټ کسان هم هلته څوک نه پېژني. لنډه یې داچي ددانورو ،،ستانو،، هغه جرړي چي ژوند یې تریخ کړی دی هلته پر یوه مخ ترک نه لري. د (انسانستان) ټوله بشري ادراکات او انساني ملکات داسي کارنه ورکوي لکه په دانورو ،،ستانو،، کي چي آموخت ورسره نیول سوی دی. بلکي هلته دفکر طرز، دسلیقي جریان، دعمل سلوک او دغرایزو میل په داسي ترتیب چلیږي چي په دا نورو ،،ستانو،، کي تصنیف سوي روحیات دهغو معرضي نسي کولای او نه د (انسانستان) انسان دي موجوده روحیاتو تر اوسه پوري لیدلی دی. هغه

www.sikaraam.com

انسان چې بېخي د دې انسان تصورنسي کولای ځکه تعدي، حرص، غضب، تجاوز، استعماريت، خود خواهي، قتل وغارت، تعصب او نور دې انسان لازم صفات کورټ نه پېژني او نه ورسره آشنا دي. لنډه يې دا چې د (انسانستان) اوسېدونکي سړی توب حيوانيت وايسي (؟) ځکه هلته ژوند يو محترم مضمون دی او د ژوند دجمال لپاره بشري جريان شروع دی، چې ژوند د ژوند لپاره پخپله طبعي ساحه کې و پالل سي. په (انسانستان) کې هيڅ داسي چاري نسته چې په ژوند کې بې ګټې وي او نه داسي مضامين پکښې موجود دي، چې هغه نه وي موجود، بلکې د ژوند عملي نظام يې د ګردو پر نفعه ولاړ دی او علم يې له طبعي حقيقي احساسه ځخه ترکيب سوی دی. هر هغه شيان چې يو انسان له بله ځخه جلا سي او يا يې په جنګ ورسره اچوي داسي عوامل د (انسانستان) دښمنان دي او هر هغه ايجابات چې يو انسان پر بل ګرانوي او ورنژدې کوي يې هغه د (انسانستان) په خپل ځان کې دانسانيت د ارتقاء او دانساني ذهنيت د تکامل هغه مرحله بلل کيږي چې د ژوند تکامل کوي د ژوند په معنا. نو ژوندی دې وي انسانستان

---

عبدالرؤف بېنوا: اوسنی ليکوال. علامهٔ، رشاد خپرندويه ټولنه. ۱۲۸۸ (۲۰۰۹) کندهار. مخ. ۱۱۵۷. ۱۱۵۸

www.sikaraam.com

# د ثور پاچا ګښتي

پخوا زمانه چې به کله یو چیري د سر دولتي مشران ترله واوښته، یا به یو پاچا د بل پاچا پر کټ باندي کښېناستی او یا به یوه امیر د بل امیر پای تخت ځني ونیوی نو پر دغسي نیولو او اووښتلو باندي زموږ د پښتني ولس له خوا څخه په عاموخبرو کي د پاچا ګښتی نوم ایښوول سوی وو، زیاتره به موږ ته خپلو اناګانو کله نا کله په وطن کي د پاچا ګښتی داسي تېر سوي نکلونه هم کوله چي په جګړو کي به یې یوه ورور هغه بل ورور دواکمنی له تخته څخه و شاړه او یا به یوه تربور د هغه بل تربور سترګي ځني راکښلې څو د پاچهي یا امیري مقام ځني ونیسي. دغسي کلونه او دغسي نکلونه به د پاچا ګښتی له نامه سره تېنګ تړلي وه. داچي څونه وګړي به مړه کېدله یا به څونه بې ځایه کېدله او څه راز سړې تودې به پر ولس باندي تېرېدلې او یا په کومه پلمه به څوک پر چاباندي راپورته کېدل، ټوله د نکل هغه منظره جوړوله چي تر ډېره ځایه به په تاریکه کي غوټه وه، خو د کیسو یا افسانو غټه برخه به د هغو کسانو پر نامه راڅرخېده چي یا به د قدرت پر کټ کښېنستلي وو او یا به له هغه څخه رالوېدلي وو. د ګرده تاریخ بیان د همدغو پاچهانو یا امیرانو د بري یا ماتي، د ښېګڼو یا بد ګڼو یوه رښتیا یا دروا غو پرېپړه وه، چي د پاچاګښتی ډرامه به یې د تخیل د لپاره تمثیلوله. د تېري زماني د غه شان ډرامې

www.sikaraam.com

زمونږ په احساس کي دیوې خوا لپاره ستاینه او دبلي خوا لپاره غندنه راخوځوله. خو په هر صورت هم دستاینې او هم دغندنې په دواړو حالاتو کي دغه راز پېښي یو مخیزه د پاچاګښتی په نامه یاد بدلې. بیانو کله چي تناوونه لنډ او دنیا سره سوری سوه نو د نورو هیوادونو سره د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي او اطلاعاتي پېژند ګویو په راکړه ورکړه کي یو لړ کلمې یا ویي، چي بل چیري یې له وختي څخه رواج موندلی وو، زمونږ د ژبي ورشو ته راغلې او دلته یې داسي پاخه راته واړوله چي زمونږ په ژبه کي یې درایجو کلما توځای ونیوی. داچي په خپلو تا توبو کي یې څه راز معناوي درلودې، ترا وسه لاهم مونږ ته پوره نه ده روښانه. خو داچي زمونږ په ژبه کي یې کومي معناوي واخستې، یوه داسي سابقه ده چي تریوې اندازې پوري یې تول کېدای سي. په دې لړ کي لومړی کلمه چي زمونږ د ،،پاچاګښتی،، ځای یې ونیوی، هغه د کودتا کلمه ده. کودتا چي هر شی وه او په هره ژبه کي چي یې کومه معنا درلوده خو زمونږ د ژبي په خوله او په زړه کي یې په بشپړه توګه د پاچاګښتی ځای ونیوی او ورو ورو یې هغه پر یوه مخ درواجي استعمال له میدانه څخه وایستله. زما دخپل وخت د یاد خبره ده چي کله به زمونږ خلګ د شاهي سرکار (دولت) له زند وبنده څخه د بر سرغاړي سوه او له سیاسي یا اجتماعي اختناق څخه به یې دوتلو هیڅ مجال نه لیدی او یا به دلږ اظهار په ګناه ځني میړني او زړور کسان د تورو زندانو په کوټه قلفي کي د مرګ ترورځي پوري خاوري کېدله، نو په دغسي

www.sikaraam.com

شرایطو کي ،، کودتا ،، هرچاته د ژغورني او خلاصون لپاره دیوې مجربې نسخې په څېر ښکارېدله. کورټ مي نه هېرېږي چي کله به څوک د پاچا ،، تور،، سو، نو له ډاره به یې له هغه سره چا روغبړ نه کاوه او له دې څخه به بېرېدله چي مبادا د هغه په ګناه به یې ونیسي، ځکه د شهرنا پرسان په استبدادي تاریخ کي د غه راز پیښې خلګو د سر په سترګو لیدلي وې... د پاچا په غضب اخته سې، یوه له هغو سختو ښراوو څخه وه. چي خلګو د خپلو جابرو دښمنانو او غټو غلیمانو په حق کي کوله د هغو سیاسي او ښتوله مخې چي وخت ناوخته به په نوره دنیا کي د کودتا په نامه پېښېدله او خبرونه به یې موږ په راډیوګانو کي اورېدله یا به موږ په اخبارو کي لوستله نو داسي مانا بې را ته افاده کوله چي دا د دولت په دستګاه کي د ننه یو څو خیراندېشه کسان په پټه سره کښیني د ځان او اولاد تر سر و مال او په یقیني ایثار یا فداکاري د خلګو د نجات لپاره خپل تر منځ ټینګه ایماني ژمنه وکړي څود وسلې په زور یو ټولواک یا واکدار، یا واکمن یا جنرال، یا پاچا او یا کوم بل مطلق العنان صوبه دار له سیاسي قدرته څخه واچوي د هغه د زور - زیاتي له غمه څخه خلاص کړي. په دې حساب چي کودتا د ظلم او فشار له درانه باره څخه دیو اولس د خلاصېدو بریمنه لاره ګڼله کېدله، نو هم د خواصو په ذهن او هم د عوامو په زړه کي دیوې سرېدا ایي میړاني او قهرماني نوم وو، چي داختناق تربشپړې سیطرې لاندي یې عادي وګړو حتی تصور لا هم نسواې کولای. موږ چي په خپل ظلم ځپلي وطن کي د کوم چاله خوا څخه دیوې

www.sikaraam.com

کودتا ساده فکر لا هم ممکن نه ګڼه، نود نورو ځایو کودتا ګاني چې به مو اورېدلې دخپل زړه سوده مو په کوله. زما له یاده ځخه نو وزي، چې په مصر کي دجنرال نجیب او دهغه ترشا دجمال ناصر کودتا یې راپاڅېده چې په ۱۹۵۶ میلادي کي یې دشاه فاروق دپا چهي کمبله دیوې کودتا په برکت ورټوله کړه، یوه داسي اُمید بخښونکې پېښه وه، چې زموږ ځلمي ځوانان دلته پخپل کور کي لا ورته هوسېدله. ددغي کودتا خبرما د کندهار دطلوع افغان دورځپاڼي په اداره کي واورېدی. هغه زمانه د کابلي سرکار مطبوعاتي مدیر هلته مرحوم محمدشاه ارشاد وو، زه د ورځپاڼي اداري ته ورغلی وم، دمصر دکودتا د خبر له رارسېدو سره حتی دشاهي سرکار ددغه پوره اعتمادي مدیر له خولې ځخه بې اختیاره زما په مخ کي داسي هیجاني جمله په لوی ږغ را ووتله چې: ،، رب دي دغه سنت عمومي کړي ،، دده له احساساتي لهجې ځخه پوره ځرګندېده چې وایي کاشکي دغه دکودتا دود دلته هم عملي سي. بیانو په ایران کي کودتا، ترهغه پس په عراق کي کودتا او داسي نوري سرپرسر کودتاګاني مود نړۍ په بېلابیلو هیوادونو کي پرله پسې اورېدې چې دسیاسي مورال په حساب یې زموږ د قدرت ځښتنان خورا زیات بېروله او د آزادۍ غوښتني په مبارزو کي یې دځوان نسل یا نمي روحیه ډېره تقویه کوله. لنډه یې داچې کودتا یوه مطلوبه کلمه وه او معنا یې زموږ په تصور کي هم هغه ږه، چې یو لړ شمېر کسان په پټه دایثار او فداکارۍ په روحیه درژیم دبدلون یا اووښتون لپاره ناڅاپه وسله وال پاڅون

www.sikaraam.com

وکړي. زموږ د وطن په سیاسي بهیر کي هم د کودتا هڅي د محمد نعیم خان او بیا د عبدالملک عبدالرحیم زي په نامه زموږ ترنظر تېري سوې. خو دا کودتاوو که چیري واقعیت درلودی، بري ته ونه رسېدې، ځکه دیوې فارسي ډرامې په استناد چي ،،حکومت بیداراست،، هغه شنډې سوې او مخکښان یې د اوږده کړاو او زحمتناکه بندیتوب په مصیبت کښېوتله. د سیاسي تحول په منظور د کودتا همدغه مقبول یا ملي مفهوم زموږ په اذهانو کي ځای نیولی وو. خو له څنګه سره یې وخت ناوخته دانقلاب کلمه هم په اشعارو او آثاروکي دلته هلته غلې په مخه راتله. دسردار داؤدخان اقدام چي دده په مبارکه خوله د وراسته سلطنت رژیم خاتمه یې وویله، هم په رسمي چیزونوکي د کودتا په ویاړلي نامه سرکاري اخبارچیانو ونوماوه، په هغه دوران کي بیا یوه بله کودتا د مرحوم محمدهاشم میوندوال په نامه ټاپه سوه، چي دیو شمېر کسانو دوژلو، ټکولو یا ځورولو سبب وګرځېده او د کابلي خبرچیانو له خوا یې په یوه یا بل تعبیر یادونه وسوه. کودتا ګانې چي په نړۍ کي ډېري زیاتي سوې اوله تخیلي آرمانو سره هم یې دسیاسي مبارزو هیلي ترسره نکړې، نو ورو ورو یې ځای انقلاب ونیوی. د انقلاب په ادبیاتو کي دسره انقلاب، زرغون انقلاب، سپین انقلاب او نورو رنګونو انقلابونه هم دخبرو بهیر ته راکښېوتله. په دې لړکي د پرولتاري انقلاب، بورژوازي انقلاب، اسلامي انقلاب، کلتوري انقلاب او داسي نورو انقلابونو وراشې هم میدان ته راغلې، خو زموږ په

www.sikaraam.com

مجلسو کي چي زيات حساب پر کېدی، هغه لومړی د فرانسې سياسي - اجتماعي انقلاب او ورپسې د اکتوبر سوسياليستي انقلاب وو، چي زموږ د سياسي هيجاناتو لپاره يې د الهام يوه سرشاره مايه جوړوله. د همدې شرايطو په غېږ کي هغه ډېره غټه پېښه چي زموږ پرخاوره د ۱۹۷۹ ميلادي کال د اپريل په ۲۷ نېټه ياد ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور ۷ مه نېټه د کابل په پايتخت کي له يوې سياسي ګړبې سره راپيل سوه او تر اوسه يې لا دخونړيو ورانيو طوفاني بهيرونه ادامه لري، په خپله نوعه کي د بشري تاريخ يوه داسي ستره واقعه ګڼل کېداى سي چي دوطني، منطقوي او جهاني ابعادو متحول ترکيب يې په نوعيت کي پوره ثرګنديږي. ديادوني وړ يې بولم چي که دد ې لوى پېښي يا بدي په اړه يو نيم بيانونه لريا ډېر را په زړه سي اوښې يا بدي خاطرې يې دواړي د هم هغي زمانې له احساسه سره سم په پښتني صداقت وليکل سي، نوښايي چي زموږ دنيژدې تاريخ يوه ډېره مهمه پاڼه به دا بدي هيري له چپاوه څخه ژغورلي پاته سي. دغه ماجرا چي حتى مرکزي لوبغاړو يې لا هم د اجرا عملي تصور کله نه وکړی، په داسي ډراماتيکه توګه ناڅاپه راميدان ته سوه، چي چاته د بېري، چاته دأميد، چاته د حيرت، چاته د ذلت، چاته د قدرت او چاته بېخي د خوب وخيال يوه معامله وايسېدله، خو په هر حال ټوله په دې احساس کي په يوه خوله وه، چي خبره خورازيا ته غټه ده، ځکه زموږ خپور عامه ذهنيت چي د اوږده استبداد او نه تمامېدونکي اختناق د سياسي قدرت له ياخه استقراره سره پوخ عادت

www.sikaraam.com

نیولی وو نو د داسي یو دم راچپه کېدو او د بېخکي رانسکورېدو فکرېي لا هم نسوای کولای. پردې لویه پېښه د ثور انقلاب، د پر تمین انقلاب، د نوي تیپ انقلاب او بیا په وروسته کي د ملي - دموکراتیک انقلاب بېلابېل نومونه په عامه خبرونو او خبرونو کي رواج سوه. د ثور د میاشتي له نامه سره تړلې دغه درنه ټکه چي انفجاري مواد یې د سختو استبدادي فشارونو او نا تمامه اختناقي دورانونو په خورا اوږده سابقه کي سرپرسر کوټه سوي وه، د شلمي پېړۍ د ستروتاریخي پېښو په جهاني فهرست کي پوره ځای نیولای سي. د جریانا تو دغه پړاو چي د افغانستان د سیاسي او اجتماعي تاریخ په بهیر کي له نن څخه شل کاله وړاندي تریو لړپرله پسې ټکرونو وروسته د ګوندي نظامي یا حزبي - فوجي حرکت پرسلسله راپیل سو او خاتمه یې تردې اوسه (۱۹۹۹ میلادي) پوري لا هم روښانه نه ښکاري، هغه لویه پاچاګښتي یې وبولي چي د مشرانو او کشرانو د پرسرونه یې وخوړله او د افغانستان تر هره ګوټه پوري یې لیونۍ ډکي او زوروري څپې ورسېدلې. په ګرده هیواد کي داسي څوک پاته نسوه چي د مثبتو ښېګڼو او منفي بدګڼو تراغېزولاندي یې رانسي. هغه چاچي په دې حرکت کي سازماني ذمه واري لرله، د خپلي ګوندي ستراتیژي پربنا یې ددې خبري حق درلودی، چي نوی تیپ انقلاب یې وګڼي او یا یې دیوې بلي ژبي په همراهي تقلیدي نامه وبولي. دوی البته یوازي د قدرت داخستلو لپاره د نظامي چپاو واحده حادثه په پام کي نه نیوله بلکي هغه تو له انقلابي پروګرامونه یې په

www.sikaraam.com

نظر کې وه، چې يوه نيمه لسيزه وړاندې يې د ټولنې د انقلابي تغير لپاره په خپلو تبليغاتو او تعليماتو کې خلګو ته په ډاګه اعلان کړې وه. دوی به ټوله له ګردښو او بډو سره پر همدې ځای پرېږدو، چې د خپلو پروګرامونو د تحقق لپاره يې کومه لاره واخسته او پر کومه خوا ولاړه. رابه سو، د خپل وخت هغه يو شمېر جديدو خيالو يا روښان فکره کسانو ته چې له دې بهيره څخه ګوښې پاته وه او د غې ناڅاپي پاچاګښتي د يوې غير منتظره واقعې يا نا ببره حادثې په څېر په خورا غټ حيرت کې واچوله، د غسي کسان تر يو څه وخته پورې په دې فکر کې وه چې دوی خو په پخواکې د خلق د موکراټيک ګوند له زياترو لويانو سره ډېرې نيژدې شخصي پېژند ګلوی درلودې، نو ښايي چې دوی ته به په دولتي جوړښت کې سمه برخه ورکړي او خولې به يې په غوړو کې سي، خو په ګوند کې د ننه چې دولجو پر سر کشمکشونه يا د صوبه داريو پر سر نوې او زاړه تضادونه په خوټېدو کې وه، نو د دولتي لوبې هر کاره يا کړې ورځ په ورځ ترداسي اندازې راکوچنۍ کېدله چې په خپله د سرې مبارزې لوبغاړې لاهم په هغې کې نه سره ځايېدله، د توزني هيلې په طمعه د غه کسان چې کرار کرار د دې نوي ګوندي پاچهي له درباره څخه يو مخيزه ناأميده کېدله او د نوي انقلابي واکدارانو له خاص پاملرني څخه محروم پاتېدله، نو د لومړي ځل لپاره يې د غه ستره پاچاګښتي چې سرکاري ژورناليستانو د ثور پر تمين انقلاب معرفي کاوه، د خپل زړه د سرېډو لپاره په پټو خصوصي مجلسونو کي په پښتو ژبه ،،دغوايي اړودوړ،،

www.sikaraam.com

بلله. په دغه خندوونکي توکي نامه باندي يې دخپل زړه سوده کوله او د ورپېښ محروميت لبه يې په سړوله، دغوايي نوم له دې اړو دوړسره چنداني ناموسسه هم نه ښکاريدی، ځکه په ګوند کي داسي يو څو پېژندلي کسان هم وه، چي د سياسي مبارزو په دوران کي يې، وختي لا دخپل صورت يا سيرت له مخي دځينو بود ګانو دنومو لقبونه د حريفانو له خوا څخه اخيستي وه. دحيواني نومو القاب زموږد ژبي په طنزيه يا هجويه کلتوركي چنداني بې سابقې هم نه ګڼل کېږي. ځکه چغال سرور، اوښ لالو، خر ګلو او مار او دراما ن يې دمثال په ډول يا دولای سم. بله پلا بيا له ګونده وتلي يو ډېر کړولي ګوندي چي پخوا يې ددې جريان وندرته خورا ډېر زلميان راوستلي وه او اوس د محروميت په خړه ورځ کي دانقلابي مخکښانوله رديفه څخه دباندي پيکه ښکاريدې، نو کله چي به ده ته د تقرير واګي په لاس ورغلې، دغه پاچا ګښتي به يې د اواز په فشار د ،، کودتا ،، په نامه سپکوله، دده له لهجې افاده داوه، چي په دې حركت کي خلګو يعني ده په خپله ونډه نه ده اخستې، نو ځکه پرعلمي حساب انقلاب نه ګڼل کيږي بلکي د يو څو کسانو کودتا ده. دده له وينا څخه ښکاريده چي په نظري توګه يې انقلاب هغه اووښتنه بلله، چي ټول خلګ را وپاڅي او خپل سياسي، - اجتماعي سرنوشت پر بل مخ واړوي. د همدې لړ خبرې يې وبللې، چي د جهاني تبليغا تو په آمريکايي سبک کي بيا ،،د ثور کمونيستي کودتا ،، باب سوه، څود مقاومت داسياسي ادبيات پوخ ورد وګرځي. خو هغه څوک چي په يوه

www.sikaraam.com

یا بل دلیل یې د ثور پر پاچاګښتي باندي د انقلاب ښه نوم نه پېرزو کېدی، نو یې په مخالفت کي دې ته ټینګه ملا وتړله، چي د کودتا نوم پر هغه باندي پوخ کړي. دوی غوښته، چي انقلاب دیوې ستایلي پدیدې او کودتا دیوې غندلي پدیدې په څېروښیي، په هرحال کودتا چي یوه زمانه یې زموږ په اذهانو کي ښکلې بڼه درلوده. هغه یې په بد رنګه څېره ورواړوله. په خارجي تبلیغاتو کي دې ټکي ته زیاته توجه څرګند بدله چي د ثور پاچاګښتي د کودتا په نامه محکومه کړي. د کودتا له څنګه سره چي یې بیا د کمونیستي او خونړي کلمات هم ملګري کړه، نو په یوه ټک یې درې څلور مرغی ښکارولې. په پېښور کي یو اخبار چاپېدی او ماچي به وخت ناوخته د هغه مقالې کتلې نو دا به څني ښکارېده چي یوازې د ،، کمونیستي کودتا ،، پریې اعتباره کېدو باندي له خپلو سپانسرانو څخه یوڅو خوشمړي لاس ته راوړای سي، ځکه په هره لیکنه کي به یې پرځای یا بې ځایه ددغو کلماتو وچ تکرار هرومرو په مخه راتلی. د ورځو او شپولو تېرېدو سره د ثور خوندور انقلاب چي ګوندیانو او هواداراتو یې په رښتیا یا په دروا غو د هغه پرمزو باندي دویاړ ژبې ټکولې، کرار کرار دیو ډېر بې خونده ژوولي شخوند په څېر له خولې څخه تف سو، د انقلاب نامه یا چي د ګوند پروژل سوي مشر نجیب الله باندي ډېر وغمېدی، نو یې په رسمي توګه هم په خپله او هم د انقلابي ګوند په نمایندګي پر یوه مخ له خولې څخه وا چاوه او د تمول تر مجهولي ټاپې لاندي یې په خپل نوي اساسي قانون کي د یوه محکوم مفهوم

www.sikaraam.com

په توګه د تاریخ خاورو ته وسپاره. ده داسې ګومان کاوه، چې په دې چاره به یې درد دواسي او له دې درانه باره څخه به یې اوږې څه سپکې سي. اوس به خپل پاشلي ګوندیان دغه لویه اونه ختمېدونکې پاچاګښتي چې سراسر په ګداګښتي هم بدله سوې ده کله د تحول، کله د تطور، کله د پاڅون، کله د اووښتون او کله نا کله یې بیا د امریکا د سیاسي مقاماتو د مزاجي خوښې لپاره د خوشامند په توګه د ثور خونړۍ کمونیستي کودتا بولي، او رېدلي مې دي، چې د خلک دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې یو مبتکر غړي بیا خپله دغه ویاړلې تاریخي کارنامه نن سبا په جګه غاړه ،،دغوایي خوشایي،، یا ،، دغوایي مرداري بللې ده. د ثور جهان شموله پاچاګښتي که د سیاسي تمایلاتو یا ناملایماتو له اغېزو څخه لرې څه ګوښې ترکتني او څېړني لاندې و نیول سي، نو د دې واقعیت حدس وهل کېدای سي چې دلته په سیمه کې یو شمېر نړیوال پېچلي مسائل موجود وه او دهغو څرک له دې ټکي څخه لګول کېدای سي چې د ثور له پاچاګښتۍ سره په یوه وخت کې د ایران پاچا ګښتي هم منځته راځي. ما هر وخت ویلي دي او بیا هم وایم چې د دې تاریخي بهیر خارجي ماهیت تر هغو پوري څوک په واقعي ډول (توګه) نسي پېژندلای، څو چې د شوروي د ،، کې.جي.بي،، اصلي اسناد یې د امریکا د ،،سي.ای.اې،، له اصلي اسنادو سره یو ځای د کمپیوټري پلټني په رڼا کې ترکتني نه وي ایستلي، د دې معنا به داوي، چې زموږ د بدمرغیو عوامل به د قیامت ترورځې پوري یو مخ پټ پاته

سي. نن په داسي حال کي چي د ثور پر تمین انقلاب د انقلابي قهرمانانو له خولې څخه پر یوه مخ لوېدلی دی، خو د ثور د کمونیستي خونړۍ کودتا پرمهال لاښ باندي لا اوس هم مسلطه د تبلیغاتو مرګوني وارونه کیږي. خارجي هیوادونه او یا دهغو تنخا خواره چي د سیاسي ملحوظاتو په خاطر دغه کار کوي، نو خو حق یې دی، چي دخپل منفعت په استقامت کي یې دغه لاره په مخه اخستې ده. خو دلته بیا یو بېچاره خوار کی ګوندي چي نه یې توبې څوک مني او نه یې د اوښ د پل په جوړولو بخښي، خو دی لا جوغېدلی دی چي دخپلي تخیلي تېرني لپاره دغه لویه حادثه یا ستره فاجعه د کودتا په حیث نامه باندي یاده کړي. ددغه راز کسانو عملي ماته د کلیوالو هغه پخه خبره راپه یادوي، چي وایي اوزګړی له یوه سره یو څه لاس لګوي، خو خرڅي شرمښ ووینې، نو غړي یې وتښتي او دخوشامند په توګه دهغه ترمخ دمرګ لوري ته پر خپلو پښو ورسره ځغلي. د دې بهیر په تاریخي ملنډو کي داراز ګډې وډې لا هم دیادوني وړدي، چي یو وخت زموږ یوه پیاوړي څېړونکي هغه مهال چي له کوم راډیویي خبریال سره یې په مرکه کي د ثور پر پاچاګښتي باندي د کرکي په قهرجنه لهجه خپل ډک زړه خالي کاوه، نو نیږدې وو چي دنفرت ټوله خروښ تر ،،ثور،، خوار کي وکاږي، ځکه د ده دعلمي څېړني سره سم هم دملحدو او هم دمجاهدو غبرګ ټکي دواړه دهمدې ثور په دوران کي د افغانستان پر سر لګېدلي دي. باید شکرو کښنل سي چي داګړی دلږم یا چونګاښ او یا بل ځناور په میاشت کي نه ده

www.sikaraam.com

پېښه سوې. ثور یعني غویی خولاډېره پروا نلري ځکه هغه دبقري زوی دی او بقره هغه مقدسه هستي ده چې دخدای دعربي کتاب دهم دې څپرکي دهمدې مبارکي په نامه بلل کیږي. که خبره داسي نه وي، نو په نجومي حساب نه ثور غویی دی، نه هم سرطان چنګاښ او نه هم عقرب لړم. که د الفاظو ترڅېړنیزو ټوکو ټکالو راتېرسو، نو خدای په ربښتیا خوښیږي چې له دې ټوله رنګارنګ استعماله سره بیا هم ولاکه موږ سم پوهیږو چې کودتا څه شي ده او انقلاب څه ته وایي. راسئ تر وسه وسه زیار وباسو، چې دڅېړني خبره له کودتا څخه راونیسو او تر انقلاب پوري یې ورسوو. کودتا خو زموږ له پخواني خیاله سره سمه هغه ناڅاپه نظامي پېښه ګڼل کېدله، چې یو څو ناپېژندلي سرپڼاګه پوځیان یې د یو رژیم او یا د رژیم د سرانو دایسته کېدو لپاره سرته ورسوي، خو د کودتا چیانو پېژندنه او ددوی دسیاسي تګلاره، نوبیا وروسته کرار کرار، په خپرونو او مرکو کي خلګو ته څرګندېږي. د دغسي یوه مفهوم له مخي د ثور پاچاګښتي هیڅکله کودتا نسي بلل کېدای، ځکه لومړی خو دا ناڅاپه نه وه چې ټولو خلګو ښه پوره پېژندی او خپل پروګرامونه یې هم له وختي څخه لا په ډاګه اعلان کړي وه. بل نو له پخواني مفهومه سره سم موږ کودتا ته زیاتره داسي فکر کاوه چې باید تر ډېره وخته یې نظامیان اداره کړي. خو ثور پاچاګښتي چې نن سرته ورسېده نو سمدلاسه په دا سبا یې د اداري ټوله دولتي واک دګوند ملکي مشرانو ته وړانتقال سو. باید داخبره یاده سي چې په افغانستان کي دا لومړی ځل

www.sikaraam.com

وو چې نظامي واکداري په ملکي واکمني بدله سوه او ښايي دماتي يو اساسي عامل يې هم دغه نوی بې سابقې انتقال وي چې د دولت په لوړه سطحه کې په سر ورسېدی. دا د ثور د پاچاګښتي هغه بنيادي ټکي ګڼل کېدای سي، چې له کودتا سره اساسي فرق لري. اوس به راسو دې خبري ته چې کودتا دلوېديځو ادبياتو يا غربي سياسيانو په هنداره کې وګورو. د کودتا کلمه (Coup teat) چې فرانسوی يې بولي، د ويسټر په غټه انګرېزي ډکشنري کې داسي ښودل سوې ده: په سياسياتو کي هغه ناڅاته او غوڅ اقدام ته کودتا ويل کيږي چې په تېره بيا دغه اقدام په غيرقانوني صورت يا د قوې په زور ديو ولاړ حکومت د اوونښتني سبب وګرځيږي. غربي پوهان زياتره ددې کلمې دسياسي هويت په مورد کي داسي تصور له ځانه سره لري چې کله پر پېښو ولاړ يو انتخابي حکومت دناپيښنه نظامي اقدام يا دقوې داستعمال له لاري رانسکوره سي، نو دغه شان حرکت د کودتا په نامه ياديږي. که موږ په رښتيا انصاف هم دغه ډموکراټيک پرنسيپ په پام کي وساتو، نو دافغانستان په سراسري تاريخ کي د پرله پسې حکومتونو دولتي بنيادله ډيري پخوا زمانې داهسي کوږتې هغسي يوې مرحلې ته کله نه دي رسېدلي، چې هلته ديوه ځل لپاره لاهم يو ټاکلی انتخابي حکومت دغربي دموکراسی د اصولو سره سم په کوم وخت کي منځ ته راغلی وي. هر حکومت يا ښه يا بد هر کله ديوه بل چاله خوا څخه په زور ايسته سوي دي او هغه يې پرځای کښېنستلي دي. همدغه دليل دی، چې

www.sikaraam.com

زموږ هیڅ حکومت تر هغه مهاله چې زور درلودلی دی، بل چا ته یې ځای نه دی ورپرې ایښی، ځکه ګرده اړه مود زور بالای زور یوه ناتمامه پروسه ده او د دولتي قدرت لپاره دهمېشنۍ جګړې دغه مداومه قانو نمندي مو کله پټه کله ښکاره تراوسه لاهم په ملک کې روانه ده، یو وخت چې مقتول نجیب الله د سولې په منظور ظاهرخان پاچا وطني اشتراک ته راوباله نو هغه یې په جواب کې د نجیب الله حکومت غیرمشروع وباله، خو مرحوم نجیب الله په دې غبرګون کې پوره حق په جانب وو چې ظاهر پاچا ته په رده وو وایې، چې ستاسې حکومت نو کله سیاسي - قانوني مشروعیت درلودی. ظاهر وویل، نجیب الله ته نه لرې مشروعیت ده هم لغ کړل سته، دهغه د سلطنت چې خبري سرله نیژدې تاریخه راونیسو، نو رښتیا هم له امان الله څخه حبیب الله، له هغه څخه بیا نادر، له ظاهر څخه بیا داود او له ده څخه نور محمد تره کي دولتي قدرت په زور ونیوی او هم دغه شان تر دا اوسه پسې راځي چې هر چا په هر وخت کې په خپل زور یا د بل په زور د حکومت واګې په لاس کې اخستې دي. د افغانستان په دولتي سطحه کې چې سوله مشکله ده، دلیل یې هم دا دی، چې دلته هر څوک په زور سیاسي قدرت ته رسېږي او زور والا بیا داحق هیچا ته نه ورکوي چې هغه میدان ته راسي او بې له زوره د وچ انتخاب په قوت د ده ځای ونیسي. د دغه تاریخي واقعیت په پام کې سا تلو سره که د اوسنۍ زماني غربي مقیاس په نظر کې ونیول سي، نو د افغانستان سیاسي تاریخ له آدمه تر دې دمه پرله پسې د زور بالای زور یو

www.sikaraam.com

داسې بهير دی، چې په عصري معنا مدني دولت يا قانوني حکومت ته کوم د را پيدا کېدو مجال نه ور کوي. په دې صورت کې نو زموږ د تاريخ د هرې زمانې ټولې پاچاګښتې، د ثور د پاچاګښتې په شمول يو رنګه يا يو شان ته نوعيت لري او له دې خبرې څخه دا نتيجه را وزي چې يا خو ټولې بې له استثناء څخه کودتاوې ګڼل کېږي او يا خو يوازې د ثور پاچاګښتې د دې سياسي امتياز حق نه لري چې په دې بې مصداقه نامه باندې يا وستايل سي او يا وغندل سي. خوله دې سره بيا هم که چيرې د ثور پاچاګښتې د تبليغاتي موډ په سليقه کودتا وبلل سي نو هغه بيا مشکله ده چې کمونستي و ګڼل سي ځکه تر پايه پورې کمونستي چين له دې کبله په رسميت و نه پېژند له چې هغه يې کمونيستي نه بلله. د ثور د پاچاګښتې د کودتايي نامه له تبليغاتي اغيزو څخه چې ځان را وباسو نو ځېرنه موسم دستې له دې پوښتنې سره مخامخ کېږي چې زموږ د تاريخ د غه ستره پېښه بايد له علمي دريځه د انقلاب د معياري موازينو په کچه هم تر کره کتنې لاندې سمه وپلټو. د انقلاب توری يوه عربي کلمه ده، چې په زياترو مواردو کې د بدلون يا اووښتون په معنی ترجمه کېدای سي. خو هغه مفهوم چې زموږ په ژبه کې د ،،الثور،، په لغت افاده کوي. زموږ د ژبو په بهير کې د سياسي،اجتماعي، کلتوري، بورژوازي، پرولتاري، اسلامي او داسې نورو ډولونو انقلابي ترکيبونه هم دلته هلته ديوه يا بل هدف لپاره تر استعمال لاندې راغلي دي. خو د ټولو ترمنځ يې مفهومي اشتراک په دې افاده کې راڅرګندېږي، چې يو تسلط

www.sikaraam.com

موجود حالت باید تغیر وخوري او نوی کیفیت یې ځای ونیسي. دعمومي تیوري په رڼا کې خبره داسې ښکاري، چې دیوې ټولنې وګړي دژوندانه دکاروبار په هلوځلو کې حرکت کوي او دغه حرکت له هره پلوه په مجموعي توګه پرله پسې مخ پرزیاتېدو او پراخېدو وي. هم دغه انکشاف بیا په ځان کې دننه دبېلابېلو منافعو ترمنځ خوښ ناخوښه دتساند او تضاد یا اتصال او انفعال دوی سره تړلې غبرګې پدیدې منځته راوړي. ددې پدیدو درسل جبري پروسه هرومرو دا غواړي چې دوګړو په ټولنیزو روابطو کې یې د زیاتېدونکي ودې پرمخ باندې دروازه تړلې نه وي. که ټولنه په مثالي توګه دبخار له دېګه سره مشابه وګڼل شي نو دغه دېګ چې کله په ایشناو کې وي، داور تـه په کارده، چې یو منفذ ولري، څو د بخار د ډېرېدو فشار یې د چاودني ترتکاني ونه رسېږي. که چېرې دهغه په جوړښت کې د بخاردو تلو یو ټاکلی منفذ نه وي، نو د فشار د زیاتېدو سره هرو مرو چوي. یوه ټولنه هم ددې لپاره چې پرله ونه چوي، نو باید وګړي یې دداسې ټولنیزو روابطو په شبکه کې عیارسي، چې دفعلیتونو او حرکتونو د انکشاف مخه یې کلک بند شونو یا خنډ ونو په ټپه نه وي راګرځولې. خو که یې مخه بنده وي، نو هلته که د چا زړه غواړي او که نه غواړي یوه چاودنه حتمي بلل کېږي، ځکه دهغې ټولني په دننه یا د باندې کې داسې شرایط راپیدا کېږي چې دمسلطو ټولنیزو روابطو راګډه شبکه یې پرله وچوي. ددغسې یوې چاودني نوم انقلاب دی، چې په انګرېزي کې د ،،ریوولوشن Revolution،، په نامه

www.sikaraam.com

یادیږي. دغه لغت په قاموسونو کي د داسي بدلون یا اووښتون په توګه معرفي کیږي، چي د خلګو چپاوي پر ګني را وپاڅي ځو پر ځای ناست حکومت په مرسته جمعي قدرت رانسکوره کړي او د ټولني جوړښت یا سکښت سر چپه را واړوي. اقتصادي او اجتماعي دریځونه بدلیږي نو سخت خونړي ټکرونه یې له بې رحمه تشدد ه سره ملګري وي. انقلاب نو یوه اختیاري یا انتخابي پروسه نه ده، بلکي یوډول انفجاري عملیه ده، چي په یو ډول د ډولونو منځ ته راځي او بې بند وباره سرې لمبې یې له تورو دودانو سره تر ډېره وخته پوري له خروښه نه لوېږي. د سیاسیاتو غربي پوهنه بیا د انقلاب یا ،،ریوولوشن،، په مقابل کي ،،ایوولوشن Evolution،، یوه کلمه هم لري، چي په تکامل ترجمه سوې ده. دا البته د ټولني په مورد کي د تدریجي یا تکاملي بدلون هغه نسخه ده، چي هلته د انکشاف لاري دوګړو پر مخ باندي ټپي نه وي ټړلي او ټولنه یې سوکه سوکه د نسبتي ثبات سره یو ځای د تغیر په بهیر کي د اووښتني او پر مختلني بشپړتیا یي پړاوونه هم وهي. دا نسخه د تدریجي تغیر یوه عملیه وګڼي چي په سیاسي سطحه کي یې رښتینې ډیموکراسي د بشري نړۍ پر یوه یا بل ځای کي د ټولنیزو مبارزو د فشار لپاره د منفذ په توګه ایجاد کړې ده. خو ددې نسخې تبطیق البته د سوچه روښانه انساني ذهنیت په کلتور کي د ایجاد او استقرار زمینه پیدا کولای سي.

دې ټکي ته باید سم پام را وګرځول سي چي بنیادي انقلابونه زیاتره په دوو بڼو یا ځېرو کي خپل ځان پوره ښکاره کوي،

www.sikaraam.com

ځکه چې یوې د ماهیت له مخې سیاسي نوعیت لري او بل یې سربېره پر سیاسي خصوصیت اجتماعي نوعیت لري. کېدلای سي چې لومړی د سیاسي انقلاب او دویم د اجتماعي انقلاب په نامه سره بېل سي. سیاسي انقلاب هغه دی چې په پېښه کې یې یوازي دولتي رژیم تفسیر وخوري او پورته، کښته یو شمېر دولتي نهادونه هم له حکومتي ماموزانو سره لاندي باندي ترله واوړي راواوړي. خو اجتماعي انقلاب بیا هغه بېخکي بدلون دی، چې د خلګو ترمنځ د ملکیت مستقر روابط پرله وشکوي او وګړي ترهغو پوري چې په نورو روابطو کې تنظیم کیږي، سرا سیمه غوندي په یوه عامه او تامه لګه درګه کې یو دبله سره د ټکرونو ډکې وهي. زموږ په سیمه کې په مثالي توګه د ایران انقلاب د سیاسي نوعیت له مخې او د افغانستان انقلاب د اجتماعي نوعیت له مخې ټیپیکې تاریخي نمونې ګڼل کېدای سي. د ثور پاچاګښتي د انقلاب په تعبیر او د هغه زیا تره غټ پرابلمونه البته د هغو روابطو له تغیره سره اړه لري، چې د مځکې د ملکیت په برخه کې د،،اخ د ک،، (د افغانستان د خلګ د موکراټیک ګوند) له خوا ټخخه راپیل سوه. که څوک د دغه ملکیت زړه شبکه او پر هغې باندي ولاړ موسسات د بې سنجشه موسسانه تغېراتو له عواقبو سره یوځای تر کتنې لاندي راولي، نو په دې خبره یې پوره سد رسېدلای سي، چې د غه د ثور پاچاګښتي د دې پرځای د کو د تا په کوچنوټې نامه یې اهمیت له نظره واچول سي، په خپل تاریخي ماهیت کې یې د افغاني، منطقوي او جهاني انقلاب پیلامه کښېښوله، ځکه

www.sikaraam.com

له لومړي سره څخه د هغه ټوله جريان د هرڅا پرلاس باندي د ملکیتونو د نیولو، یا ګټلو، یا لاندي کولو، یا خپلولو او یا بایللو یوه ناتمامه لیکلیکه وګرځېدله چي د خاتمې عوضي شبکه یې په نیژدې زمانه کي لا هم نظر ته نسي راتللای.
د باندارې دا پاړکي پرځای ده چي وايي: زموږ د ثور اړود وړ په کود تا کوچني کېدی او س هغه د ټول جهان ترڅړپېدو ورسېدی هغه مهال چي د وطن ځوانانو د بيداری په دوران کي د کود تا ایدیال په انقلاب بدلېدی، نو زموږ په تصوري خوبو کي یې یوه داسي مقبوله منظره انځوروله چي ښايي د عمومي اختناق له سیطري څخه مو یو مخيزه آزادولای سي او د هر اړخيزه انکشاف لويه روښانه لاري مو پر مخ پرانستلای سي. کوم شاعر یا لیکوال چي به کله د انقلاب توري پټ یا ښکاره په خپلو آثارو کي ځایاوه، نو دویاړ بر ېتونه به یې تاوول چي ولا زه هم دایم انقلابي یم. د غه زمزمه یوه زمانه د پای تخت د عیاشیو او ساتېريو په شرابي باندارو کي هم د ترنم لپاره موډ ګرځېدلي وه چي: "غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زماني رنګ" له هغو ټولو څرګندو مشخصاتو سره چي د ثور له پاچاګښتي څخه په نړیواله سویه د اجتماعي انقلاب یوه تاریخي مورينه جوړه وي، خوبیا هم ځني لا ابالي کسان یا متمایل ژورنا لیستان د خپل زړه د سرېدو یا د حق الزحمې د حلالېدو لپاره هر کله دې ته جوړېدلي وي چي د ثور پر انقلاب باندي د کود تا نوم پوخ کړي. د وی په عین حال کي خلګو ته داسي ذهنیت ورکوی، چي کود تا خورانا وړه چاره ده اما انقلاب بیا له عیبه پاک یو

www.sikaraam.com

سپېڅلي جریان دی. ښکاري چې د دغه راز کسانو پوره دافغانستان په ستر انډوخر خوزړه نه دی سوړ سوی او نور انقلابونه یې لاهم ورته په نیت کې دي، ځکه نو یانه پوهیږي او یا نه غواړي چې دا حقیقت سمدم په ډاګه کړي، چې انقلاب، که په هر نامه وي، هغه دورانیو او بربادیو بې جلوه طوفان ګڼل کیږي. دانقلابونو په څېړنو او پلټنو کې هم راز راز ډیري رنګارنګ خبري تللي او را غلي دي، یووخت به داسي ویل کېده چې کله ټوله خلګ قهرېدلي راوپاڅي او په یوه ټولنه کې دژوند سیاسي - اجتماعي سکښت بدل کړي نو دغه شان عمومي قیام انقلاب بلل کېدای سي. موږ همدغه راز اسلامي انقلاب د سر په سترګو په ایران کي ولیدی، چې دوګړو ټولو قشرونو د زړه په اخلاص پوره برخه پکښې واخیستله خو کله چې په سرورسېدی نو دخلګو په درد یې ونه خوړل او دیوه بل انقلاب دضرورت ستونځه یې د وګړو په مبارزوکي پای ته ونه رسول. په روڼو سترګو دا واقعیت لیده کېدای سي چې انقلاب که ګرده خلګ وکړي اویا یې یوکس وکړي خو دهغه خوږې ګوړي یوازې د یو موټ کسانو په برخه کیږي. دانقلابونو د تاریخ نتیجه تل ترتله دا حقیقت راښیي چې،، توري به لالا وهي، مړې به او دولا وهي،، اویا داچې ،، خوشحال خان توري وهي،، منصب سدو خوري،،. د ثور د پاچا ګښتي دانقلابي مشکلاتو په برخه کي دځینو یارانو له خولې څخه د ګوندي درسنامو په تقلیدي سلیقه وایي، چورته خبره نه وه او یا پوره بشپړ سیاسي رسد ته رسېدلې نه وه، څو دغه جریان د کتابي

آرمانو د تحقق پر لار ه واقعي پړاو ته ورسوي. د داسي اندېوالانو دراوېښولو لپاره ګومان کوم یوازي همدومره چیخونه کافي وي، چي د اکتوبر ستر سوسیالیستي انقلاب له پیله څخه بیا تر ختمه پوري او یا کاله رسېدلو کارګرانو راوچلاوه او پر لویو جهاني کارنامو یې هم ستر ګي نسي پټېدلای، خو د انقلابي نسل نووبچانو یې په خپل لاس په کریملین کي فاتحه واخیستله. نن سبا د فرانسي لوی انقلاب ته د انساني عقل په تاریخي محکمه کي هم د غسي یو سرنوشت ګوري. د غربي آثارو په لیکونو کي ما ته څو ځلي داسي یوه وراشه په مخه راغلې ده چي وایي: ،،انقلاب خپل بچیان خوري،،. که د اثر ګندونه د انقلاب د پېژندني یوه مشخصه وګڼل سي نو په افغانستان کي خو د ثور د پاچاګښتي روان انقلابي بهیر په هر پړاو کي تردې دمه پوري خپل زیات بچوړي وخوړله او نوریې لاهم پسي خوري. دلو یدیځو پوهانو د څرګندوني رښتیاني مصداق هم د ثور پاچاګښتي ده چي د کود تا له مفهومه سره بنیادي توپیر لري. په اوسنی نړۍ کي چي زاړه او نوي انقلابونه د مدني ذهنیت له دریځه مخ پر محکوم کېدو روان دي نو هر راز انقلاب، که د کفروي که د اسلام، د هغه مانا وراني ده او ښکلې ښایسته نومونه یوازي د پرده پوښي لپاره وربانـدي ایښوول کېږي، که چیري موږ انقلاب یا کود تا په یوه یا بل ناوړه نامه باندي یوازي ترغندني لاندي راولو، نو د تاریخي پیوند پرهغه لړۍ باندي سترګي پټوو، چي د علت او معلول له اصله سره سم یې یوې فاجعې بله

www.sikaraam.com

فاجعه زیږولې وي. د تاریخ پیښې د کړیو په څېر سره تړلې دي او هره لاحقه یې د خپلې سابقې زېږنده ګڼل کیږي. د علمي څېړنو په چارو کې د تاریخي بهیر پرله پورې تشریح د هغه راز احساساتي مداخلې مخه نیولای سي چې یو څوک د خپلې خوښې له مخې له کنې سره سم دستاینې یا غندنې په نیت د تاریخ نه شلېدونکي تسلسل ته د بېلا بیلو مستقلو ټوټو یا ځانته پارچو په سترګه ګوري. راسئ چې دیوه ژوندي مثال په توګه دا خبره دیادوني وړ وبولو چې نن ورځ ډېر خلک په افغانستان کې دننه او تر هغه د باندې د طالبانو له سیطرې څخه نفرت کوي، خو د ټولو خوله چې وپوښتل سي نو غټ اکثریت یې دا وایي چې په کابل کې د ،،رب،، د واحد کهوله څخه دیوه رباني ،،ناوړه،، اسلامي دولت وو چې دیوه بل ،،رباني،، د ناوړه،، اسلامي امارت،، فاجعه یې وزیږوله. دا واقعیت په هیڅ وخت کې دهېرولو نه دی، چې د کودتا یا انقلاب تر محکومېدو هغه عوامل د زیات نفرت وړ دي چې لږ خلک کودتا ته او ډېر خلک انقلاب ته اړیاسي. دواقعاتو منطقي پیوند باید هیڅ وخت له تاریخي پیونده څخه لېري نه سي. نن سبا چې د ثور پاچا ګښتي د افغانستان د تاریخ یوه ضخیمه برخه ګرځېدلې ده، نو که یې ښه بولي او که بده، خو ددې لپاره چې د هغې تاریخي هویت په ژورنالیستي تبلیغاتو کې مسخه نه سي، باید په علمي آثارو کې د هغې له عواملو او عوارضو سره یو ځای د ،،اجتماعي انقلاب،، په عنوان ثبت سي. که چیري زما له دغې سپارښتنې څخه څوک غاړه پیچي او د کودتا په بې

www.sikaraam.com

ځایـه کلمـه د ثـور د پاچا ګـښتي هراړخيـزه ورانـوونکي. انقلابـي ماهيـت يـو مخيـزه لـه پامـه غځـه اچـوي نـو زه مجبـوريم د پـښتني ولس هغه تاريخي وراشه در ته را دمخه کړم چي وايي:

زريې مړه کړه خو تاسي يې لا بدي نه بولي!

له انټرنيټي سرچينو څخه

www.sikaraam.com

# دښځي او نر ډیالیکتیک

انسان د نوعي واحد په توګه هغه موجود دی، چې د بیالوجي په حساب د نر او مادې، په بشري حساب د ښځي او سړي خو د کلتوري رابطې په اجتماعي او اقتصادي حساب بیا د مایني او میړه د دوو ژوندیو عناصرو له موریني یا مبدې څخه منځ ته راغلی دی. د همدې واحد د هر عنصر یعني ښځي او نر په وجود کي یو شمېر فطري یا ذاتي غریزې داسي تعبیه سوي دي چي دواړه په ګډه دې چاري ته جبراً ګماري چي د نوعي توالد او تناسل د حیاتي رسالت وظیفه سر ته ورسوي. دا چي یو عنصر یې کومه د نده مخ ته بیایي او هغه بل عنصر یا کومي چاري اجراء کوي ګرده هغه مشترکي خبري دي چي دیونه او بل تر منځ متقابله عملیه یې د بیالوجي په پوهنه کي تر یو حده روښانه کیږي. خو د ښځي او سړي په وجود کي د همدې غرایزو د خوځېد نې بشري هیجان او احساس بیا داسي پوښتني راولاړ اندي کوي، چي د جنسي روحیاوو په پوهنه کي یې ټیک جوابونه موندل کېدای سي. د انساني نوعي د څو ملیوني کلونو تاریخي انکشاف چي د تکامل په نامه هم بلل سوی دی د نر او مادې یا د ښځي او سړي نوعي واحد دي له بیالوجیکي فطرت یا عضویته سره یو ځای اجتماعي ساحې ته را وستلی دی او له دې سره سم یې د توالد او تناسل غریزي چاري د ټولني په شبکه کي د اجتماعي مناسباتو په رنګ رنګولي

www.sikaraam.com

دي. له بیالوجیکي اصله سره سم دډې خبرې ماهیت پوره څرګند دی چې ښځه او سړی یا سړی او ښځه داسې حیاتي عناصر دي چې د فطرت وظایفو له مخې په وجود یا دهغه دوظایفو په اناټومي کې یو شمېر توپیرونه لري او هم هر یو یې دخلقت په حکم د توالد او تناسل په عملیه کې خپلې ټاکلې چارې سرته رسوي. دانسان په نوعي حساب دوی په دواړو یوځایي هغه واحد جوړولای سي چې دد ووګونو وظایفو په متقابلو بشپړولوکي حیاتي رسالت اجراء کوي. دوی نه یو دبل سره مساوي دي او نه هم د یوه دندي ترهغه بل فضیلت لري. بلکي دانساني واحد دوه لازم غړي بلل کیږي. که چیرې کوم داسې طبعي، تاریخي او یا بشري عوامل راپیدا سي. چې دیوه عنصروجود پریوه مخ له منځه واخلي نو له دې سره هغه بل هم دیو څو کلونو په لنډه موده کي دمځکي له سره څخه اخیستل کیږي. دا هغه لومړی پرنسیپ دي چې ددواړو عناصرو دبرابرې بنیادي پیلامه جوړوي. دځان په څېر دبچوړو زېږونه یا دمثل تولید چې دیوې نوعي پرله پسې پایښت تامینوي دطبیعي قانو نمندی یوه داسي دوه اړخیزه عملیه ده چې دبیالوجیکي پوهني له دریځه په نبا تاتو، حیوانا تو او بشري موجوداتو کي دښځینه جنس او نارینه جنس ترمنځ ددواړو دتناسلي پیوند په زمینه کي دهر یوه دبېلابېلو فطري وظایفو له پوره کېدو سره راڅرګند یږي. که له دواړو جنسو څخه یو جنس دځینو عوارضو له کبله ونکړای سي چې دخپل وجود فطري وظایف سرته ورسوي، نو هلته ده دنوري زېږوني او

www.sikaraam.com

زېږېدني چاره د تل لپاره پای ته رسيږي. که دغه شان منفي عوارض ديوه او يا بل جنس په خوا کي کلي عموميت پيدا کړي نوله دې سره د نوعي موجوديت يو مخيزه له منځه ځي. د دې څرگندونو په رڼا کي نوبيا داسي خبره څټي گڼل کيږي چي د يوه جنس تخليق وظايف د هغه بل جنس د تخليقي وظايفو په پرتله د دوی لپاره د حاکميت يا محکوميت په تغيرباندي ښوول کيږي. د مثل په توليد کي د جنس هره خواداسي ځانگړي چاري اجراء کوي چي هغه بله خوايې نسي اجراء کولای. دوی دواړه يوځای د نوعي واحد په توگه يو د بله سره د تخليقي وظايفو په بشپړولو او تکميلولو کي د نوعي فطرت او خلقت د نده سرته رسولای سي. خو انساني نوعي چي د فطرت له بيالوجيکي خصلته سره د خپل انکشاف په جريان کي د ټولني ساحه هم ايجاد کړې ده، نو يې د کار، د توليد، د جنگ، د ننگ، داداري او داسي نورو ټولنيزو چارو په برخه کي د ښځي او سړي ترمنځ وجودي توپيرونه چي طبيعي منشاء لري ديوه جنس په فضيلت او د بل جنس په فضيحت اړول دي. له دې تغيره سره هغه پرلن پېچلي مسايل رازېږېدلي دي چي له تيرو زمانو راهسي بيا تراوسنيو وختو پوري په بېلابېلو فلسفي افکارو، اجتماعي نظرياتو او مذهبي احکاموکي د احساساتي مناقشاتو او افراطي مجادلاتو په بڼه ديوه يا بل جنس په گټه ارائه سوي دي. ترڅو چي دغه قضيه په اساس کي تريو علمي فورمول لاندي انساني شعور ته لاره پيدا کوي، ښايي تر هغو پوري به وخت په وخت د کلتوري کشالو او دوديزو جنجالو

www.sikaraam.com

زیږنده وي. خو ددې اهمې مسئلې دروښانه ذهني او عملي حل لپاره ترهر څه لومړی ددې چاري يو تيک تدبير په کار دی، چې ښځه سمه- دمه ديو خپلواک موجود په توګه په هغسي پوهنه سامباله سي لکه نرچي په سامباليږي. له دې شعوري برابري سره دا زمينه هم بايد په خپله د ښځي له خوا څخه د علمي موازينو په رڼا کي سرښته سي چي د خپلو اړتياوو د پوره کولو شبکه په اجتماعي مناسباتو او روابطو کي په خپله تثبيت کړي. د نسبي او مالي ارث په برخه کي هم د توازن يوه نوي دوکتورين ته اړتيا پېښيږي چي د دواړو جنسو د رښتياني برابري رول ولوبوی. داچي د عضوي قوت او جسمي طاقت له کبله د نر غلبه د حاکميت درجې ته رسېدلې ده لازمه ده، په دې تخليقي پرنسيپ سره د اعتدال ټکي ته راټيټه سي چي هر غښتلی، قهرمان، پهلوان، مدبر فليسوف، مخترع او نور يا نور په هر حال کي د خپلو ټولو فضايلو يا غټبازيو سره بيا هم د ښځي زوی بلل کيږي.

ته که راته وواېي چي ښځه خوبې زوره ده
توان د چکې نلري په مازي پوه نسکوره ده
زه بيا هر غښتلی د هر ملک د ښځي زوی بولم
مور دی زيږولی پهلوان که قهرمان دی
ښځه بې له نره نربې ښځي نيم انسان دی

www.sikaraam.com

# خرکدو

زمونږ د ژوند له لوی بهیره څخه داخبره راوتلې ده او د ژبې زېرموته موراغلې ده چې په حیواناتو کې ((خر)) ترټلې او په نباتاتو کې ((کدو)) غندلي دي، که درانه سنګین خلک وي او که سپک لغړیان، خو چې کله وغواړي د ترټنې یا غندنې په جذبه کې یو او بل ته سپکې سپورې سره ووایي نو ده ((خره)) او ((کدو)) له نومونو څخه په خطایي لهجه د خپل غضب دسرېدو لپاره دیوې وراشې په توګه کار اخلي. ((خر)) چې دخدای یو خوارې کښ بوده دی او دبېرته پاته ولسونو په سترې چوپړ کې یې درانه بارونه پېړۍ پېړۍ له غاړې څخه نه دي اووښتي، په خپل اوږده تاریخ کې یې چنداني ښه ورځ په سترګو نه ده لیدلې او تل تر تله یې پرهر راز ښکنځلو، چیخونو، وهلو او ډبولو سربېره خورا زیاتې ستومانۍ ګاللې او په پټه خوله یې د بابا آدم د اولادې له لاسه څخه ډېرې ناخوالې زغملې دي دا بېچاره ددې پرځای چې د زغم یا برد بارۍ غټه قهرماني یې په برخه سي، دنا پوهۍ تاریخي سمبول لا د لاسه ګرځېدلی دی. څرنګه چې خرد خلکو د ژوند په بهیر کې سهار او ماښام، د کار او بار لپاره هره شېبه حاضر او ناظر دی، نو پر نورو پلندو سربېره یې د خروالو خپل داتي خویونه یا خاصیتونه هم دده د توري سوانح پر شټ باندې سر باري سوي دي ددې معاملې په نتیجه کې نوبې شمېره ژبنې ترکیبونه یا بیانونه

www.sikaraam.com

دخبرو په عادي او ادبي زمينه کي عام خپاره سوي دي چي ځرګندوني يې د آدم په اولاده اړه لري، خو نوم د خره په بديړي د مثال په ډول ((شين خر)) يا ((موشه خر)) اويا ((اشري خر)) هغه ترکيبونه دي چي د ((سوچي ناپوهۍ)) اوبې چورته ((خرمستۍ)) د ځرګندوني لپاره په کار لويږي ((خرلوډګلی))يا ((خرکسي)) بيا دخره په ګډون دالفاظو هغه لنډ بيان دی چي ((انډوخر)) غوندي پر عامه او تامه اداري، اجتماعي سياسي، اقتصادي او اخلاقي ګډوډي باندي بشپړ دلالت کوي د زور ياري، دخره سپارلي، هغه ژور، بامفهومه متل دی چي دد ې او دنيا په چاروکي د ((زورګيرۍ))،((خرزورۍ))، ((خرګيرۍ)) او يا ((خرتوبۍ)) ناوړه حالت ځرګندوي. خښميدلی پښتون چي کله چا ته دمقابلې اعلان ورکوي نو هغه ته وايي چي ((خره دي ايله!)) ياځه((خروبردي بشکنځم)) خو دماتي په حالت کي بيا داسي ږغيږي چي ((خره کونه يې وکښه)) په سياليو کي لوېدلي کسان چي نه غواړي يو تريل کم راسي نو بيا هم خبره دخره له خرکه وهي او ځان دخره په موقف کي دروي ځکه وايي((خرچي ترخره پاته سي غوږونه يې د پرېکېدو دي)) د پښتو ژبي دګرامرتېکه داران ښايي داسي ترکيبونو ته کيچ پاته سي لکه ((خره درواغ)) ،((خرلېونی))، ((خرشوده))، ((خرغول)) او ((خرکافر))، خو که د دوی له جملې څخه دګرامر يوغټ علامه بيا له بده مرغه پر ((خره نشه)) پېښ سي نو دګرامري پوهي دغرور نشه به يې له سره ورو الوزوي او هغه څه

www.sikaraam.com

چي دده پوهي د کاني کرښې بللي دي، د اوبو دسر ليکي به څني جوړي سي. همدارنګه ښايي ديو ناني منطقو خوراغټ استادان له ډېره حيرته څخه د ((ارسطو)) پرپخو مقولو باندي پوره بدګمانه سي چي کله د ((غريب سرمايه دار)) يا ((جاهل عالم)) په رديف کي د اضدادو پر ممنوعه اجتماع سرېږه داهم واوري چي پلاني يو ((خرانسان)) دی ((په پښه تړلی خر))، ((دخره زوی))، ((پرخپل خره سپور))، ((دخره ذات)) اوداسي نور خونو تاسي خپله ښه پېژنی. ((په خبرو کي خرګوډول)) او يا ((خره خسيانول)) ټول هغه انساني عملونه دي چي بدنامي يې دخره پرغټ باندي ورلوېږي په هغه متل کي چي وايي ((هم فقر کوي هم دي خرلغتي وهي)) بيا هم د خره نوم بد دی، دباتک يا بادک په معرفي کي بيا دهمدې بېچاره حيوان حيثيت ته داسي صدمه رسيږي چي ((خرله باره ولوېدی، خوله باده ونه لوېدی))، پټهان خان ته چي دفلسفې اشتها ورولاړه سوه نو بيا هم د خره ترتبيلې دباندي نه و واتی او د ژوند ټوله ((خربخر ګردان يې)) دغايې په حساب په دې ځرګندونه کي را ونغاړی چي ((خر د دې لپاره دی چي شپيشتي پر راوړل سي او شپيشتي بيا د دې لپاره دي چي خريې وخوري)) يا خو يې د مادي نړۍ ليد دا واقعيت پښتو ته وسپاره چي ((ساړه دخدای په روی نه ګرځي، خو د خره په ځل ګرزي)) د پلار نصحيت په زوی نه پوري کېدی نو په آخر کي يې خپل خښم تر دې ترتلي حيوان داسي وکښی چي ((خريې واهه ګلوته، دی رهي وو غولو ته))، ((دوا پرغره، سارايان

www.sikaraam.com

خره)) هغه متل دی، چې د غرو د ګلو او بوټو په باره کې یې بازاري په خپله پوهنه ویاړي او د نا پوهۍ له بابته پر کلیوالو باندي د خرو ټاپه لګوي، ټوله خلک غورځي، پرځي، لویږي رالویږي، اوړي را اوړي، خو د دې پټ خولي حیوان دغه راز لوبې بیا په خورا ناوړه نامه خرچیلکي بولي او د شود ګانو لغتې وربانديه تمثیلوي. د آخري زمانې خر جدال یا خر دجال په اسلامي ډرامه کې چې یو سترګی کوډ ګر سپیڅلي مومنان د جنتي حورو او غلمانو له مستي میني څخه د تل لپاره محروموي، هم د خره منفور شخصیت او هم د ده بد بویه خوشایي ډېر روښانه نقش لري. ((د خر جدال کته)) بیا د یوې داسي ناتمامه جنجالي قضیې نوم دی چې په هغې کې ((نه خر مرداریږي او نه د سپي امید څني شکیږي)). د ځاني ملکیت په مقیاس د انساني ارزښت درجه د خره له برکته په دې پښتو متل کې ډېره ژوندۍ تمثیل سوې ده چې وایي ((خرنلرې، خرنه ارزې)) هغه څوک چې د اوسط له کلتوره څخه تېښ ناخبره وي، نو د ده په غندنه کې د زیار کښ حیوان له نامه دا ډول ناوړه استفاده کیږي چې ((یا نه کوي یا د خره کوي)). ((خریدلان)) بیا د ((خرکار)) او ((خرینه)) یا ((خربه)) په څېر د یوې حرفې نوم وبولي چې ټولنیزه درجه یې د خره له شامته ډېره ټیټه ښکاري، ((خپل خر تر او بو پوري ایستل)) یوه داسي وراشه ده، چې د خره مذمت او د خاوند همت یې څني څرګند یږي. له تاریا کې څخه د شپې په توره دربله کې ((ابجوشه)) ورکه سوه. څراغ یې راوړی او کړی شپه یې پر

سرواخیسته چې هغه پیدا کړي چا پوښتنه ځني وکړه، چې څه شي لټوې؟ ده وویل ((ابجوشه)) راځخه ولوېده او ورپسې ګرځم هغه ورته وویل، ((ابجوشه)) خویو پول نه ارزي اما ستا په ځراغ کي ډېرو پیسو تېل ورپسې مصرفیږي، تاریا کي پر راغبرګه کړه چې زه پر تېلو نه یم، خو ډارېږم، چې کوم ملا به پرېپښ سبي او ((خرجوه)) به یې کړي. لیکوال له جېبه قلم راوکیښ، په خوله کي یې ونیوی او بیا یې د غوږ په درز کي کښېښوی، بیرته یې راواخیست او په لاس کي لاندي باندي څوواره واړاوه، خو مضمون نه ورتلی، چې څه ولیکي، چا پوښتنه ځني وکړه، چې څه درپېښه ده؟ ده بې اختیاره ورته وویل ((ولا خربې مضمونه یم)) زما د ماشومي خاطرې په یاداښت کي ((خرېشوی)) هغه کلمه ده، چې په کندهار کي دامنیېې یو جابر کوتوال په زیاتره د کندهاریانو د سپاوي لپاره استعمالوله. نورنو ((په خروکي الفت)) د هغې مشهورې لطیفې نوم دی، چې ابتکاري اړخ یې ((د ګل باچا الفت)) د حاضرجوابیوله جملې څخه یو بې ساري شاهکار ګڼل کیږي خو تر دې شهکارلاښه ډېر کلونه پخواپه کندهار کي یو نابلده کلیوال چې د خرو درانیولو او خرڅولو په مارکېټ (ګنج) پسي ګرځېدی، نو په لاره کي پر ((تاج اخند زاده)) پېښ سو او له هغه څخه یې وپوښتل چې کاکا جانه داد خرو ګنج چیري دی؟ هغه سمدستي په جواب کي ورته وویل چې همدا اوس دلته ځای پرځای یې په منځ کي ولاړیې. د پښتو په شعري ژبه کي یو ډېر عالي تصویر چې زموږ د پسمانده شرایطو په غېږ کي د

خره پر دریځ باندي جالبه رڼا اچوي د شاعر په هغه بیت کي پوره لیده کیږي چي وایي.

چېري چي د ګل په ونه پوري خر تړلی دی
هغه زموږ کلی دی

دغه بیت تر هر څه دمخه ما ته د کندهار هغه مردار خور حاجي را په یاد وي، چي په اویا کلنۍ کي یې د څوارلس کلني ګلالۍ سره د اسلامي نکاح په پړي باندي تړل سوی دی. د کندهار دیوه پخواني شاعر ولي محمد مخلص هغه تاریخي مناجات هم کورټ د هېرولو نه دي، چي د ټولنیز ژوندن له ناکردو څخه دځورېدو په خاطر او د زغم د حاصلېدو په هیله به یې تر هر لمانځه وروسته خدای ته د ایمان د سلامتۍ پر ځای په ډېرلوړ آواز دارنګه خواست کاوه، چي ((ربه خرمي کړه!)) لیونیان هم د خره له موجودیته څخه سترګي نه پټوي ځکه د ((غندو)) لېوني هغه خبره مي کورټ له یاده څخه نه وزي، چي یوه ورځ یې مردار سوی خر په لاره کي لیدلی وو او له ده سره یې داغم ووچي ((آیا ایمان په یې تېر کړی وي او که یا؟)) په دې لیونۍ وراشه کي موږ ته د ((هالنډ)) د نامي فېلسوف ((سپینوزا)) د ژوري فلسفې جوهري رمزپه مخه راځي. که تر سرحد ور تېر سو نو اورېدلي مو دي چي په ایران کي ځیني کسانو د ((حزب خران)) په نامه یو ګوند جوړ کړی وو. اوس دا نه ده معلومه، چي دغه ((دخرو ګوند)) څه سو او د انحلال یا اقتدار کوم سرنوشت ته ورسېدی، خو د خرو له ذاتي خصلت څخه دا ښېري نه ده چي په یوه لار کي هم یو دبل سره د خرتوبۍ ډ کې وهي او له درنو

www.sikaraam.com

انډیوسره یو ځای یو دبل ترپښو لاندي کیږي. په دې زه نه پوهېږم چي ملانصرالدین دخپل خره له برکته شهرت پیدا کړی وو او که یې خره دملانصرالدین له بابته ښایي، ټیک جواب به یې دمسکوک دخرشناسۍ په انستیټیوټ کي له ((کان ګوفوسکي)) څخه لاس ته راوړی، خو په تاریخ کي د خره د درناوي په اړه دایوه استثنایي پېښه وبولی، چي خواجه حافظ وایي:

اسپ تازي شده مجروح به زیرپالان

طوق زرین همه درګردن خرمي بینم

یا داچي شیخ سعدي بیاد آس دګوندیتوب په وړاندي دډنګر خره ترپکي هم له پامه نه اچوي:

اسپ تازي اګرچه به نازد

لاشه خرخویشتن نیا ندازد

خو یو بل وخت چي یې بیا مناسبات ورسره خراب سوي دي نو د خپل قهرزوریې داسي ترکښلی دی:

خرعیسي اګربه مکه رود وبیا ید هنوز خرباشد

امادلاهور علامه اقبال بیا دډیموکراسۍ په توهین کي دخره ماغزه داسي تحقیرکړي دي.

که از مغزدوصد خرفکر انساني نمي آید

دخره پرتولو ښېګڼو او بدګڼو سربېره چي کله د سپېد و پروخت د چرګانو یا چړیانو د آذانو او بانګو شرنګ وي، نو دی هم دخلګو د راویښولو لپاره دجاز خپله هغه غړنګه نه سپموي، چي دستاییني پرځای په دې مقدسه غندنه باندي دخدای په ژبه

www.sikaraam.com

د تـل لپـاره محکومـه سـوې ده، چـي ((ان انکرالاصـوات لـصوت الحميـر)) ددې لپـاره چـي ترڅلـی خرموغنـدلی کـډوونـه خـوري او يـا پـه دې روان بيـان کـي د هغـه حق لانـدي نکړي، نـو خربـه دلتـه تړلـی پرېـږدو، وخپلـو خرکـارانو تـه او رابـه سـو دخپلـو پـالېزو کـډ وانوتـه (کـډو) مـاجراوي هم تـر خره پـه کمـه نـه دي سـاده، سوډل، سوډر، کوتـه ذهنـه، بـې مغـزه او بـې سـوچه سـري تـه زمـوږ پـه ژبـه کـډووايـي ((پـه کـډوکي ډبـره اچـول)) يـا ((سـر کډوکېـدل)) او ((يـا څـوک کـډوکول)) داسـي وراشـې دي چـي د کـدو نبـاتي حماقـت د تمثيـل پـه توګـه داجتمـاعي يـا مزاجـي حالـت پـه څرګندونـه کـي تـر استفادې لانـدي راولـي. هغـه ناپوهـه بـوده او دابې مغـزه نبات چـي بيا کلـه پـه لفظي ترکيـب کـي سره سوځلای سـي نـو دښځو پـه ګټـه دناريـنـه دسـتري شـودګی او غټـې لـودګی دافـادې لپـاره د ((خرکـډو)) يـو خـاص امتيـازي لقـب مـنځ تـه راوړي.

ښـځمني بايـد شـکر وکـاږي، چـي زمـوږ دخروکـډوانو لـه خـوا ځخـه د ((خـرې کـډی)) ترکيـب لاتـر دې آنـه دژبـي بهيـر تـه نـه دی راغلـی، خـدای دي دژبـي ډاکټـران پـه دې نيمګړتيـا بانـدي نـه خبروي، ولـي کـه يـې ورپـام سو نـو چـي مخ را اړوې بيـا بـه يـې دبـي بـي سـي لـه لاري د ويـنـدو يـانو د وچـي تکـرار پـه زور پـښتو تـه ورننباسـي، اوس چـي مـوږ د کـډوانو پـالېزتـه راغلـي يـو، نو ګـورو چـي کـډوان څـوک غـټ دي څـوک واړه دي څـوک يـې ژړ دي پـه ډولونـو کـي تـوپير سته، پـه رنګونـو کي تغيـر سـته څـوک سـاده څوک پټـه داره، ځنـي ښکلي او ګلـداره لـه در کـډوانو يـا کـډوګانو

www.sikaraam.com

ثخخه یو زیات شمېر یې د غذا لپاره کبابېږي، پخېږي او خوړل کېږي. زموږ په سیمه کې یو مذهبي غوندي فولکلوروایي، چې کډو ثوک وخوري نو په نس کې یې لس ورځې د خدای ثناوایي، خوپته دي نه وي چې د ډاکټرې په یو کتاب کې مې هم دا خبره ترنظر تېره سوې ده، چې د کډو خواړه د نس د داخلي ناروغیو لپاره ډېره اغېزناکه دوا ده. دغندلي کډو له طبي کرامتو ثخخه چې راتېرسو، نو رابه سو، د ده هغې کارنامې ته چې دانسان لپاره یې د سیندونو او سمندرونو د اوبو پرمخ باندي د تګ اوراتګ امکانات برابر کړي دي. دا هغه د آوبازۍ کډو دی، چې ښایي دنا پایه رودونو او دریابونو پرسطحه باندي یې دانساني سفرلومړنۍ آسانتیاوي منځ ته راوړي دي او د ((سل))، ((توتین)) یا ((جالې)) غوندي انتقالي وسایل یې دبحري لارو لپاره د ایجاد ترسویې رسولي دي، پردغه مهمه استفاده سربېره ما په خپلو سترګو د کلو او باندو په لوښو کې داوبازۍ داسې کډوان لیدلي دي، چې سربه یې ځني غوځ کړی وو او د شیانو دخوندي ساتلو لپاره به د قوطیانو یاد نسوارو او نورو دبلیانو په ځېر کار ځني اخیستل کېدی، ښایي پردې بیان باندي لا دا ټکي هم ور زیات سي، چې د کډو په وجود کې دا امکان له ورایه ثخخه لیدل کېږي، چې د ((زېربغلۍ)) په شان دموسیقي یوه آله ځني جوړه سي، په کندهارکي ((سکندر)) ناټکي دماسکونو یا ناټکي مخونو د جوړېدو لپاره هم د اوبازۍ د کډو له وچه پوسته ثخخه پوره کار اخیستی. اوه! دا خومي لا بېخي له یاده وتلې وه، چې نیږدې

www.sikaraam.com

سل کاله پخواله ژړو کډوانو څخه د مرګوني وسلې په توګه بلواګرو په کندهار کي کار واخیستی او دهغو په ویشتونکو وارونو یې دریاکاري شریع ستر قاضي دخرقې مبارکي په غولي کي دخدای دیدارته ورواستاوه خو که پردې سربېره رومي مولانا د ((کېږدیدی، کډوراني)) کارتنوي، افسانه هم ورسره راپه زړه کړو، نو دکډو ستر کرامتونه دخره له برکتونو سره غوږ په غوږ برابرېږي.

دا ټوله راز په راز کډوان چي یو دبل په اړخ کي ترکتني وباسو، نو اړو مرو دهغه واړه کډو جالبې ننداري ته هک حیران پاته کیږو، چي نوم یې د ((نسوارو کډو)) دی، زموږ وګړي چي دخولې نسوار کوي، نو په دې کډو کي یې له ځانه سره خوندي ساتي او دضرورت پروخت استفاده ځني کوي. دا عموماً یو رنګین، ښکلي، نمایداره، ډولي، نقشي، ظریف، نفیس، زړه وړونکی، حیرت پاڅوونکی، کوچنوټی، منډولی او ګلالی کډو دی، چي د انساني هنر ښکلایي اغېزې ډیري ښې ځرګندوي، چي پر طبیعي موجوداتو باندي یې تپلای او یا تر پلای سي، پخوا زمانه چي کله به موږ دنسوارو دغه راز هنري کډو چیري ولیدی او دهغه په عجیب وجود کي به مو سر ترپایه دبرآمده نقاشي ګلونه او ښاخونه وکتله، نو هېښ به ورته پاته سو، چي ځرنګه دغه بشري نقاشي دکډو په طبعي وجود کي ځای پرځای سوې ده. له ښه مرغه یوچا ته چي ددې هنري چاري طریقه نوره ورمعلومه وه، نو زموږ سریې داسي راخلاص کړ: دا په ذات کي یو ساده کډو دی، که په جوړنګ کي خپل سرته

www.sikaraam.com

ايله وي نو هيڅ راز هنري يا خو بشري نقاشي يې په وجود کي ځان نه ښکاره کړ ندوي، خو د دې لپاره چي د هغه طبيعي وجود د بشري هنر له ډيزاين سره سم د نقاشۍ يو ټاکلی شکل واخلي، نو د دې فن ماهر کسان تر هرڅه له مخه د ختو څخه يو قالب جوړوي، دا قالب چي بايد دوې پلې ولري، په دننه خاليګاه کي يې د کډو د هنري شکل لپاره د نقاشۍ طرحه شوی ډيزاين برابرېږي، هغه مهال چي د کډو په جوړنګ کي د ګل تر اچولو يا رژولو وروسته د کډو ورکوټی وجود راښکاره ګندسي، نو سمدستي يې د دغه قالب په دننه کي ايسار کړي او د قالب دواړې پلې پر هغه باندي ټينګې راوتړي، د کډو وړوکی بدن چي له يوې خوا د جوړنګ سره پيوند وي او خپلې ذاتي ودې ته ادامه ورکوي خوله بلې خوا بيا د قالب په منځ کي د ننه د خاليګاه په بڼه طرحه سوی شکل ډکوي، چي په نتيجه کي يې مقوشه هنري څېره اخلي، بيا نو د همدې کډو تر پخوالي او وچېدو وروسته چي کله د هغه د قالب پلې خلاصي سي، نوله منځه څخه يې د نسوارو يو داسي ګلالی کډو لاس ته راځي، چي هنري ننداري ته يې ليدونکي هک پک پاته کيږي، د نسوارو د غه راز کډوان چي يو وخت له مزاري څخه کندهار ته راتله، نو هلته يې د مزاري کډوانو په نامه يادوله، دوی ته پردې عجبي نقاشۍ سربېره د سپينو زرو داسي خولې له خولبو سره هم زرګرانو وراچولې، چي د ظريفي ميناګرۍ د هنر مهارتونه به يې هم ښکاره ګندوله، خلګو به ويله چي د پاچهانو نسواري کډوان د سروزرو خولې لري او په دې حساب نو د پاچهانو کډوان د نورو کډوانو

www.sikaraam.com

پاچاهان ګڼل کېږي، په نن زمانه کې که څوک په دې بریالی سي، چې د دغه شان هنري کډوانو یوه مجموعه برابره کړي، نو سربېره پر هغه چې ښایي دا نتیکو آثارو په جمله کې به یې یوه نوې شوقي مشغله را دمخه کړې وي، بلکې یقیني ده، چې د ګڼو وطني هنرونو په ردیف کې به یې یوه باارزښته ابتکاري ننداره هم خلګو ته وړاندي کړې وي، دا په زړه پوري خبره خو مې لا له یاده وتلې وه، چې د کډو له ښځه څخه زموږ د ویاړلي تاریخ سترو واکدارانو داسې جبروتي استفاده کوله، چې په هغه کې کیندلي چاپ یې ((د کډو مهر)) باله او د دې مهر ستر دولتي اعتباریې ترنن ورځې لا د ((ټاپې)) په لایزاله اهمیت کې ژوندی پاته دی. ((د کډو مهر)) چې د هر لوی امیر لپاره د قدرت چلولو یوه قاطعه وسله ګڼل کېده او د هغه فرهنګي خلایې ورډ کوله نو ځکه د امیر او یا د هغه د کډو په ویاړ د ((امیر کډو)) وراشه منځ ته راغله. هغه راز لکه تر تلې خرڅې د ژوندانه په چارو کښې د انسان په ښه ورغلی دی، د غه رنګه زموږ غندلی کډو هم په تېره بیا په خپله هنري بڼه کې د یوې ژوري تیوریکي مسئلې د روښانه تمثیل لپاره تر ګټوري استفادې لاندې را تللای سي، ځکه د نسوارو هنري کډو او پر هغه باندې د قالب مسلطه عملیه چې ټوله سر تر پایه په پام کې ونیول سي، نو ښایي په تصوري ساحه کې موږ ته د هغې پروسې یوه برخه سمه د مه تصویر او یا دروان بیان په ژبه ((خر فهم)) کړي، چې د کتور اجتماعي سلطه یې د یوه قالب په څېر د بشري وجود د ظاهري او باطني کړو وړو په تشکیل کې

www.sikaraam.com

سرته رسوي، کلتور يا فرهنګ په ډېره لويه معنا د اجتماعي ژوند هغه ټوله مادي خصوصيتونه او معنوي کيفيتونه په ګډه شاملوي، چې د يوې ټولنې يا يوه هيواد، يوې سيمې يا يوه محل، يوې قبلې يا يوه خپل، يوې طبقې يا يوه قوم، يوې ډلې يا يوه توکم، يوې فرقې يا يوه ګوند او حتی د يوې کورنۍ يا کهول غړو ته د عادتونو، دودونو، ذوقونو، رواجونو، لباسونو، خورکونو، هنرونو، فکرونو، ارزښتونو، ژبني جريانونو، خويونو، چلندونو، برداشتونو او سلوکي ډولونو په ظاهري او باطني تشکيل کې اجتماعي توحيد ورکوي. په دې حساب نو کلتور د يوه داسي قالب يا ظرف غوندي مثال لري، چې د هغه په مسلط شکل کې را زېږېدلي انسانان هم له ظاهري او هم له باطني پلوه ځانته خپله ټاکلې اجتماعي بڼه اخلي، خو د دکتور او بشري فرد ترمنځ بېلوالی هغه راز نه دی، لکه د خټو قالب چې يې د کډو له وجوده لري، بلکې دلته هغه فرد چې په خپله د کلتوري ظرف مظروف وي، د نورو افرادو د اجتماعي تشکيل لپاره بيا په کلتوري اعتبار د ظرف يوه - يوه برخه جوړوي، دا نو داسي مثال لري. لکه ثمرته رسېدلې منقوش کډو چې د بل زنګې کډو په نسبت د قالب په څېره خپله بقا ساتي دا د ظرف او مظروف ترمنځ متقابله عمليه چې د کلتوري هويت او انسان ترمنځ په ګډه رابطه کې ځان تثبيتوي. خو په کلتوري قالب کې بيا د خولې له ځيني لهجوي جوړښتونو. لباسي ډولونو او حياتي طرزونو څخه رانيولې بيا د انسان د باطني ذات يا ذهني هويت تر ټاکلې شکله پورې ټولې ځانګړتياوې ټينګېږي. هر

www.sikaraam.com

کلتور په هر حالت کې چې وي، که له یوې خوا یو تاریخي محدودیت هم ګڼل کېدای سي. ځکه بشري قضاوتونه، حکمونه، چلندونه او برخوردونه زیاتره د همدې محدودیت په دایره کې ځان سامبالوي، کله چې دوه یا زیات بېلابېل کلتورونه د بېلابېلو وګړو په وسیله د تقاطع په حالت کې راسي نو د شعوري انتباه یا برداشت د توپیر له بابته خورا عجیبې ماجراګانې منځ ته راوړي، او د کمو ترمنځ د مجلس په څېر د سمي پوهېدني ترڅایه نه رسېږي یو وخت چې د امریکا د سولوي خدمتګاران افغانستان ته راتله، نو د کلتوري تقاطع یا کراس کلچر Cross Culture په نامه دوی ته وختي لا یوه خاصه ښوونه او روزنه ورکول کېده، څو د خلکو ترمنځ د خپل کار په جریان کې خپلو داسي کلتوري حرکاتو ته متوجه وي، چې د افغاني کلتور په ساحه کې ناوړه نتایج ورباندي رابنا کېږي مثلاً د باد پرېکېده د امریکایي لپاره بېخي یوه عادي خبره ده خو د افغانانو په منځ کې د سپکاوي ډېره غټه ماجرا ځني جوړېږي کلتور چې په خپل کلیت سره د هر چا په ظاهري او باطني وجود کې ځان تثبیتوي، نو ځکه پر هر چا باندي د ځان په اندازه ګران وي او په لا شعوري یا غریزي توګه تر نورو لا ډېر ښه هم ورته ایسي، د پرېدي کلتور ځیني مظاهر زیاتره د خپل کلتور په احساس د سړي حیرت او یا کله نا کله نفرت را پاروي، خو که د ښه یا نا ښه کلتور پوښتنه د علمي یا منطقي پرنسیپونو له مخې راولړاندي سي، نو د ژوند د موازینو په حساب هغه کلتور دستاینې وړ ګرځېدای سي. چې د تولنیز

www.sikaraam.com

ژوند د سو کالۍ په برخه کې نقش لوبولای سي. که د کلتور تاریخي نوعیت په کلي توګه ترمقایسې لاندي و کتل سي، نو ښایي چې د نوي او زاړه یا د پاس او ټیټ یا د پرمختللي او بیرته پاته په نومونو باندي پر دوو ډولونو سره وویشل سي زیاتره هغه کلتوري عناصر چې د اجتماعي عاداتو په پروسه کې ځان ټینګوي، د بدلون له بابته هم په یوه رازنه دي ځیني په آسانۍ سره په نورو باندي بدلون مومي، خو ځیني نور یې بیا ډېر کلک مقاومت کوي او د پېړیو په دوران کې ثابت پاته کیږي، په هر صورت کلتوري پروسه چې په خپل ذات کې یوه منقوله یا عنعنوي تاریخي - اجتماعي عملیه ده، نو تش په معقوله منطقي فیصله او یا توصیه باندي له منځه نه ځي. همدا دلیل دی، چې کلتوري انقلابونه که په قومانده اداره کیږي نو چنداني مطلوبه نتیجه نه ورکوي.

هغه کلتورونه چې یو د بل سره شباهت یا نیژدېکت ولري، نو یو پر بل باندي مثبتي اغیزې اچولای سي، خو که په تضاد کې راسي، نو د ړانده ټکرونو په څېر یو د بل سره ډغري وهي کلتوري تحمیل په نن زمانه کې هیڅېري او د هیچا لپاره کوټ دزغملو وړ نه دي، اما که د ټولنو ترمنځ راوپاځي، نو د لاینحله شخړو او نا تمامه جګړو سبب کیږي. که چیري کوم کلتور د یو شمېر وګړو په وجود کې له خپل اصلي ټاټوبي څخه بې ځایه سي او د پردي کلتور په منځ کې ولویږي، نو ارو مرو د پردېسانو ترمنځ د یو ډول کلتوري حساسیت عارضه راپیدا کوي. ځکه له یوه پلوه د هغه ذخو ندي ساتني د لاري

هڅې راپیل کېږي، خو له بله پلوه خوښ، ناخوښ په بېړه یا ورو ورو په حتمي توګه د پردي او مسلط کلتور تر طبقې غلبې لاندې په یوه یا بل نسل کې د ادغام یا انحلال تر درجې رسیږي اما په اوسني وخت کې یو زیات شمېر بصري او سمعي سامانونه د کلتوري میراثونو له اوږده پایښته سره ډېره زیاته مرسته کولای سي. په هرصورت د خپل او بل کلتور ترمنځ اصطکاک یو هم له هغو عواملو څخه ګڼل کېدای سي چې د پردېسي په حال کې له کلتوري پلوه څخه دوګړو روحي موازنه تر ډېره ځایه له منځه وړي.

شک نسته چې د بېلابیلو کلتورونو مشاهده او له هغو سره د خپل کلتوري فکر له بصیرته سره پوره مرسته کولای سي. خو ددې لپاره چې څوک د خپل کلتوري محدودیت د ړانده ذهنیت له اغېزو څخه تر یوه حده په امان پاته سي، نو په کار ده چې هغه ته خپل لاشعوري محدودیت چې تاریخي نوعیت لري، د تل لپاره شعوري سي او د بل چا په نسبت همدغه شان معاذیر په پام کې وساتي، د کلتور له هر راز قالبي محدودیت یا کلهوئیت سره – سره بیا هم انسان د کلهو برخلاف یو ژوندی او د تحول له بابته یو فعال مخلوق دی، چې د بشري روحیې په سپېڅلي معیار له هر راز قالبي زند وبند څخه په شعوري توګه ځان آزادولای سي. دا د انساني کلتور هغه اوچت دریځ دی، چې له دې دریځه څخه یو انسان د بل انسان په نظر کې پردی نه ایسي.

لاکن هغه څوک چې د رواني دنیا له انساني اغېزو څخه ځان ګوښه ساتلای سي او د خپل خدایي استعداد په برکت پر خپل

تاریخي کړه وئیت باندي ټینګ پاته کېدلای سي، نو هغه ددې حق لري، چي د ((خرکړو)) ویاړلی لقب د ځان لپاره وګټي.

www.sikaraam.com

# توکم پېژندنه او توکم پوهنه

Ethnology&Ethnography

هغه هیوادونه چې په سیاسي جغرافیه کې یې رنګه قومونه او بېلا بېل توکمونه د تاریخي انتخاب په حکم د یو ځای ژوند د پاره خوښ نا خوښه ځای پر ځای سوي وي، د کورني یا د باندني حالاتو له بدلونه سره یې هرو مرو دا پوښتنه منځ ته راځي، چې د توکمیز نوعیت یا ایتنیکي هویت پرمادي او معنوي مشخصاتو یې د پوهني رڼا واچوله سي.

په نونسمه پېړۍ کې چې د لویې برتانیې د اقتصادي پیاوړتیا او سیاسي پراختیا څپې د افغانستان سیمي ته نېغي راورسېدې، نو د آسیایي ولسونو د پېژندني او څېړنیزي پوهني په بهیر کې د افغاني ولسونو پلټني ته هم ټینګه توجه راوګرزېده او ګڼ ختیځ پوهان دې کارته وجوغېده چې زموږ د رنګه قومونو پر سیاسي، کلتوري، ژبني او تاریخي مسایلو باندي یو زیات شمېر څېړني او پلټني سرته ورسوي.

د دغې زماني په دوران کې له پیاوړو انګریزي ختیځ پوهانو څخه یو هم هغه کړولی څېړونکی او غښتلی پلټونکی چې "هېنري والتر بیلیو" نومېدی، د افغانانو پر بېلابېلو تاریخي، قومي، سیاسي او کلتوري اړخونو باندي یې د یو زیات شمېر تالیفاتو په وسیله د کره پېژندني او سوتره پوهني بنسټ پوره رڼا واچوله. نوموړي د خپلو څېړنو او پلټنو د جدي

www.sikaraam.com

اهمیت په اړه داسې استدلال کاوي، چې د افغانستان د خلګو واقعي پېژندنه او هر اړخیزه پوهنه د برتانوي نفوذ له پوره بریالیتوبه سره ډېره مرسته کولای سي. بېلیو په خپل هغه اثر کې چې "د افغانستان توکمونه" نومېږي، یو ځای داسې وایي چې: "د یوه قوم رښتیا نۍ پېژندنه پر هغه قوم د بري نیمه برخه ده". یو بل ځای بیا د خپلو مطالعاتو په رڼا کې یوه پېړۍ وړاندې زموږ د ننني وبد مرغیو په باب داسې پېش ګویي کوي: "ښايي د منځنۍ آسیا په دغه ګوټ کې د سیاسي پېښو بهیر تر هغه زیات د افغانستان خلګو ته د لوېدیځو ملتونو پام راوګرزوي، لکه څو نه چې د برتانوي هند له انګرېزانو سره د دوی تېرو جګړو، ورته راوګرزاوه".

د "هېنري والټر بېلیو" هغه بې ساري لیکنه چې "د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه" نومېږي، زموږ د هیواد د ټولو تاریخي قومونو د پېژندني او د توکمونو د پوهني په باره کې په زړه پوري مواد لري. شپږ کاله پخوا چې د دې پښتو سوي اثر ځیني برخې ښاغلي عارف خزان د "لېمه" په مجله کې خپرېدوته چمتو کولې نو دا اړتیا لیده کېدله چې د عادي لوستونکو د لازیاتي پوهېدني د پاره ځیني تخنیکي کلمات ښه ترا رو ښانه سي. ما د خزان صاحب له غوښتني سره سم یو شمېر څرګندوني په وړاندي ترتیب وکښلې، چې ښايي، د عمومي معلوماتو له زیاتېد وسره هم مرسته کولای سي. اوس په داسي حال کې چې یو پلو له خپلو کره ماخذونو څخه ډېر لرې لوېدلی یم، خو بل پلو بیا ښاغلي خزان

صاحب ما ته لیکلې بلنه راکړې ده، چې په "لیمه" کې د "هېنری والتمر بېلبو" د هغې خپرېدونکې څېړنې د لازیاتې پوهېدنې د پاره چې "د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه" نومېږي، ما ته په کار ده، چې د ایتنوګرافۍ او ایتنولوجۍ پر علمي مفاهیمو باندې یو څه زیاته رڼا واچوم. د دې د پاره چې د ویاړلي خزان صاحب او نورو لوستونکو ناز پر مځکه و نه لوېږي، نو ځکه په تش لاس او وېجاړه دماغ دې ته اړېږم، چې یو څو توضیحي ټکي په دې باب ولیکم.

د خبرې سر باید د ایتنوس (ETHNOS) له کلمې څخه را وموښلوم. د ایوه لرغونې یوناني کلمه ده، چې چا په "نژاد"، چا په "قوم" او چا په "ذات" سره تعبیر کړې ده. خود نن زمانې د یو علمي تعریف له مخې چې د ایتنوس د پاره ټاکل سوی دی، نو ټیک معنا یې په اوسني وخت کې د پښتو ژبې د "توکم" له کلمې سره خوله په خوله برابرېدای سي. ځکه ایتنوس یا توکم په خپله خاصه اصطلاحي معنا د وګړو هغه ثابت غونډي ټولنیز هویت افاده کوي، چې په ټاکلې سیمه کې په تاریخي لحاظ جوړ سوی وي او د ژبې، کلتور، روحیاتو او ځاني احساس ټاکلي خصوصیات یې، چې په نسبتي توګه ثبات لري، تر ځانګړي نامه لاندي تثبیت کړي وي.

د ایتنوس د کلمې له پیونده څخه یو زیات شمېر مشتقات منځ ته راغلي دي، چې د هغو په جمله کې ایتنوګرافي او ایتنولوجي د هغو دوو علمي څانګو نومونه دي چې د نوني سمي پېړۍ د انسان پېژندني یا انتروپولوجۍ په

www.sikaraam.com

ځېړنو کې یې ځای نیولی دی. دغه دوې بېلا بېلې علمي څانګې، سره له هغه چې د واحدې موضوع یعنې توکم، کلتوري حالات او خصوصیات د بېلا بېلو درېځونو له مخې څېړي، خو د نومونو د استعمال په برخه کې یې په نړیواله سویه د پوهانو تر منځ یو لړ مناقشې تیرې سوې دي. همدغه منا قشې او مباحثې بیا کله نا کله د دې ستونزې سبب سوې دي چې د دغو دوو څانګو تر منځ مفهومي حد بندې د ابهام په ګڼوډې کې ومروړي او له څېړونکو څخه سمه لاره ورکه کړي. په هغو کلونو کې چې د شرقي او غربي بلا کونو تر منځ د سړې جګړې تودې ورځې وې، نو داسې اوریده کېده چې شرقي پوهان په خپلو څېړنو کې یوازې د ایتنوګرافی نوم غوره ګڼي، خو غربي پوهان بیا د ایتنولوجی پر یوازنې نامه با ندې ټینګار کوي. معنا دا چې په هغه وخت کې علمي پرېکړې هم د غټ سیاسي بېلتون ترنا وړې اغېزې لاندې وې او توکمیزې څېړنې په ختیځ کې د ایتنوګرافی په نا مه او په لوېدیځ کې دایتنولوجی په نا مه یاد ېدلې.

د دې د پاره چې نور هم د نړۍ په علمي محا فلو کې د دغو دوو څانګود نومونې تا ریخي سا بقه لږ څه په مستنده توګه روښا نه سي، نو منا سبه یې ګڼم چې د لته زما د هغو پخوا نیو او نا چاپه یا دا ښتونوله جملې څخه چې د ملي او ایتنیکې مسایلو د تیورۍ په با ب مې لس دوولس کا له پخوا را غونډ کړي وه، ځینې هغه توضیحي برخې دلته را وړاندې کړم چې له دې بحثه سره اړه لري:

www.sikaraam.com

ایتنوګرافي او ایتنولوجي:

دغه دواړي کلمې چې تردې اوسه لا د انګرېزي او روسي ژبو په ټولو دایرة المعارفونو او قاموسونو کي له فرهنګي ارزښته یا استعماله څخه نه دي لوېدلي، د لفظي جوړښت له مخي په "ایتنو پېژندنه" او "ایتنوپوهنه" سره ترجمه کېدای سي. لومړۍ کلمه زیاتره د بشري طوایفو د بیان، د توکمونو د تشریح او د بېلابېلوا قوامو د ښوونې په معنا راوړه سوې ده. خو دویمه کلمه بیا د اقوامو د پوهني، د انساني توکمونو د پلټني او د بېلابېلو طوایفو د پېژندني په مفهوم ثبت سوې ده. د دې دواړو کلمو په معنا کي زیاترو غربي قاموسونو د نژادونو د پېژندني او یا پوهني عبارتونه هم راوړي دي چي البته د "ایتنو" د مخونډي افاده یې د معمول له مخي په "نژاد" سره کړې ده. په ځینو مواردو کي دې کلماتو د مراد فونومو رنګ هم اخیستی دی او هره یوه له هغې بلې سره یو شاني ګڼلې سوې ده. لاکن یو بل چېري بیا یوې کلمې ته پر هغې بلې باندي ترجیح ورکول سوې ده. د "ایتنوګرافر" او "ایتنولوجیست" نومونه هم له دوی څخه راوتلي دي، چې د لفظي خصوصیت له مخي لومړی په "توکم پېژندونکي" او دویم په "توکم پوهېدونکي" سره ترجمه کېدای سي.

د بریتانیکا دایرة المعارف د "ایتنولوجی او ایتنوګرافی" تر عنوان لاندي داسي لیکي: "په واردواره کي په دغو نومو هغه علوم یادېده چې د بشري نژادونو د تاریخ او خپرېدني چاري یې څېړلي. خو په اوسنیو زمانو کي، چېري چي

وګړي په انګرېزي ژبه خبري کوي، هلته دا نومونه عموماً یوازي پر کلتوري څېړنو باندي ایښوول کېږي. ایتنوګرافي د هغو توصیفي څېړنو نوم دی. چي د یوې ټاکلي سیمي پر ټاکلو قبیلو یا قومونو باندي رغېږي، خو ایتنولوجي بیا په زیاته اندازه پر تیوریکي اړخو باندي بیان کوي. په انګلېنډ کي دغه توپیر نور هم تر دې اندازې پوري انکشاف کړی دی، چي ایتنولوجي یوازي د کلتوري انکشاف د تاریخي مسایلو په پلټنه پوري محدود وي، لاکن د ټولني او کلتور د مقایسوي او عمومي څېړنو د پاره د "ټولنیزي انسان پېژندني" نوم په کار اچوي. د متحده ولایاتو انسان پېژندونکي بیا غوره ګڼي، چي د داسي ټولو چارو د پاره د ایتنولوجۍ کلمه د یو عام نامه په توګه تر استعمال لاندي راسي.

ایتنولوجي او ایتنوګرافي د انسان پېژندني (انتروپولوجۍ) د څانګو په توګه له ارکیالوجۍ، ژبپوهني او بدني انسان پېژندني، جغرافیې او همدا رنګه تاریخ سره نیژدې اړیکي لري."

د مراجعې نمبر (۱)

د دې د پاره چي د دغو دواړو کلماتو د رواجېدو او استعمالېدو په توپیر نور هم ښه ترا وپوهېږو، نو باید هغه سابقه یې هم ترنظر تېره کړو، چي د نړۍ په علمي حلقو کي یې تېره کړې ده. د اجتماعي علومو په یو تشریحي قاموس کي

www.sikaraam.com

چې د "یونسکو" په سپارښت په ۱۹۶۵م کال کې راوتلې دی پر دغو کلما تو داسې خبرې سوې دي:

"ایتنولوجي (او همدارنګه ایتنوګرافي):

الف. ۱. د ایتنوګرافۍ کلمه په اوسني وخت کې نسبتاً په ثابت ډول د انتروپولوجۍ په لیکنو کې د دې د پاره استعمالېږي چې " د بشري ټولنو په باره کې توصیفي څېړنې" افاده کړي. دغه ټولني چې په ایتنوګرافي کې تر بحث لاندې نیولي کېږي، که څه هم حتمي نه ده، خو معمولاً هغه په نامه داسې لومړنۍ ټولني دي، چې د سیاسي او اقتصادي انکشاف له پلوه نسبتاً د ساده مرحلې په سطحه کې وي. خو توصیفي څېړنې چې لا هم اوس هم ورو ځيني تعمیمات لري او بلکه دا چې له تېري نیمي پېړۍ را په دیسته د ټولنیزي انتروپولوجۍ په مسایلو کې له تیوریکي چوکاټه څخه د استفادې تعامل خورا زیات انکشاف کړی دی، نو ځکه د نن ورځې د ایتنوګرافۍ لیکني، چې زیاتره د اجتماعي انتروپولوجیستانو له خوا څخه کېږي، اوس تر ډېره حده تیوریکي خصوصیات لري. دا خبره چې اوسني اجتماعي انتروپولوجیستان په عام ډول د خپلو ځانو په باره کې ایتنوګرافان دي، نو یې د ایتنوګرافۍ او اجتماعي انتروپولوجۍ تر منځ پولې یو د بله سره پرله ګډې کړې دي. *

الف. ۲. د ایتنولوجۍ کلمه د معنا له پلوه پر دغه شان ثابت حالت باندې نه ده پاتې سوې او رشتیا هم د پلټني هغه پراخه ساحه چې وار د وار تر دغه نامه لاندې وتړل سوه، اوس

www.sikaraam.com

د دروګونو بېلا بېلو څانګو تر منځ وېشلې سوې ده، چې د اجتماعي، کلتوري او بدني انتروپولوجۍ په دروجلا جلا نومونو یا د ېږي. دغه کلمه لکه څنګه چې ښا یېده، هغونه ډېره ګټوره و نه ختته، او تر یوې اندازې پوري یې له دې جهته په ارزښت کي کمی راغی، چې ایتنولوجي داسي ادعا درلوده. چې د مسایلو د توضیح د پاره کار ورکوي، خو په تېره پېړۍ کي د توضیح طرزونه پر بل حال واووښته او ډولونه یې خورا ډېر زیات سوه.

ب. ۱. دا کلمات د نونسمي پېړۍ په منځنیو کلونو کي د لومړي ځل د پاره د عمومي انتروپولوجۍ په ساحه کي تر استعمال لاندي راغله. په سر کي داسي ښکاربدله، لکه ایتنولوجي چي یو ډول تاریخ وي. د ایتنوګرافۍ د توصیفي څېړنو په مقابل کي "د قومونو تاریخ د ایتنولوجۍ په نامه یا دېدی.

" **خو د پېړۍ په پای کي بیا د دې دوو موضوعا تو تر منځ چنداني فرق او تفاوت نه کېدی. ځکه نو اې. بي. ټایلر په ۱۸۹۱ - م کال کي چي کله د ایتنوګرافۍ دنده ټاکي، نو وایي چي "ایتنوګرافي هغه علل پلټي، چي د کلتور پدیدې یې منځ ته راوړي دي او هغه قوانین څېړي، چي همدا پدیدې یې تابع دي." یو څو پاڼي وروسته بیا دا خبره تشریح کوي چي د کلتور انکشاف" د ایتنولوجیکي څېړني یوه څانګه بلله کېږي.

" ***خو یو شمېر پوهانو بیا زیار ایستلی دی، چې د دې کلماتو تر منځ پخوانی بېلوالی وساتي. په دې ترتیب نو اې. ایچ. کیني د ایتنوګرافي د تعریف په برخه کې وایي چې " که ټیک خبره وسي، نو تر ساینس د ادبیاتو نوم ورته مناسب دی. ځکه دا یو سوچه توصیفي بیان دی، چې د خلګو له مشخصاتو، تعاملاتو، ټولنیزو او سیاسي حالاتو سره اړه لري، پرته له دې چې د دوی تر منځ د ممکنو فزیکي مناسباتو یا خپلویو مسایل په نظر کې ونیول سي. د دې څانګې موضوعات د خلګو بېلا بېل ګروپونه دي، چې یو له بل څخه ګوښي یا جلا په پام کې نیول کېږي. دا له ایتنولوجي څخه فرق لري، ځکه هغه که څه هم کټ مټ په سر سره د غه بشري ګروپونه مطالعه کوي، خو دوی ټوله د یوې یا زیاتو لرغونو کورنیو د غړو په توګه یو د بل سره د اشتراک په وجه او ملاحظه تر کتنې لاندې نیسي.

****ج. ۱. انترپولوجي د دې پر ځای چې د تکامل یا د انشعاب له نظریې سره سم د اصلي موریني یا مبدې سره علاقه ونیسي، اوس یې دې لوري ته توجه را ګرزولې ده، چې موجودي ټولني د بشپړو سیستمونو په توګه د دندې یا وظیفې له مخې داسې تحلیلوي، چې دا سیستمونه له فزیکي اورګانیزمونو سره د قیاس په وسیله هسې پرتله کړي، چې زیا تره اغراق هم په ګډ وي.

په دې ترتیب نو د اجتماعي انتروپولوجی دې ته مخه سوه، چې نوي تیا کلي هد فونه او میتودونه یې له

www.sikaraam.com

پخوانی ایتنولوجیکي انتروپولوجی څخه فرق وکړي او نو ځکه د ایتنولوجی کلمه د ځینو پوهانو له خوا څخه یوازي په دې پوري محدوده سوه، چې " سوچه تاریخي یا خو ما قبل التاریخي غوندي پلتنې " کښیباسي. په دې ډول نو " راد کلیف براون " په ۱۹۳۶-م کال کي ایتنولوجي د قومونو د تاریخ په څېر تعریف کړه، چې د هغې په دا بره کي " د نژادونو تاریخ، د ژبو تاریخ او د کلتورونو تاریخ، که د ژوندیو ولسونو له مطالعې څخه لاس ته راغلي او که د ارکیالوجی له بقایاوو څخه، ټوله را شاملیږي.

" *****ج. ۲. په امریکا کي ایتنولوجي که څه هم د اجتماعي انتروپولوجی سره مقابله کیږي، خو افادې ته يې معمولاً پراخه ساحه ټاکلې سوې ده. هلته اجتماعي انتروپولوجي ویل کیږي چې د اجتماعي کلتور پر ځای اصلاً له اجتماعي جوړښته سره سر و کار لري. (د مثال د پاره دا اثر وګورئ.

******)" اې. آی. کروببر " ایتنولوجي داسي تعریفوي چې "د ګروپونو په توګه د ولسونو، د دوی د کلتورونو او د دوی د ژوندانه د تاریخونو ساینس دی، پرته له دې څخه چې د پرمختګ درجه یې په نظر کي ونیول سي "خو بېدني " بیا ایتنولوجي فقط له کلتوري انتروپولوجی سره یو شاني بولي.

*******ج. ۳. د اروپا په قاره کي ایتنولوجي همدارنګه په یوجا مع مفهوم سره استعمالیږي. په فرانسه او المان کي زیاتره داسي کلي افاده لري چې (بې له

www.sikaraam.com

فزیکي خصوصیا تو څخه) نورنو توله د هغو ولسونو اجتماعي او کلتوري مطالعات کښېباسي، چې په نامه ابتدايي يا د ليک تر مرحلې وړاندي قومونه بلل کېږي.

"د مراجعې نمبر (٢) د دې دواړو کلما تو تر تاريخي سابقې چې را تېر سو او د منا قشو يا مباحثو له ابهامه څخه يې ځان راوباسو، نو وينو چې د پياوړو ژبو په هر قاموس او هر دايرة المعارف کي بيا هم د ايتنوګرافی او ايتنولوجی د واړه نومونه په مخه راځی او د هر يوه په پېژندنه او ښوونه کي د تعريف او توضيح د پاره بېلا بېل عبارتونه په کاراچول کيږي. ځکه د پوهني دغه دوې څانګي، سره له هغه چي پر يوه موضوع با ندي رغېږي، خوله دې يووالي سره بيا هم بېلوالی لري او د نومونو توپير يې دلته، هلته په څېړنواو پلټنو کي پالل کېږي. د مثال په ډول همدا ګړی زما په وړاندي د بي بي سي انګلش ډکشنري، چي په ١٩٩٣-م کال کي چاپ سوې ده، دغه نومونه يې د واړه څنګ پر څنګ په بېلا بېله توګه له خپلو تعريفا تو سره دا سي را وړي دي:

ايتنوګرافي د انسان پېژندني هغه څانګه ده، چي په دې کي بېلا بېل کلتورونه تر څېړني لاندي نيول کېږي او بيانېږي.

ايتنولوجي د انسان پېژندني هغه څانګه ده، چي په دې کي د خلګو د بېلا بېلو نژا دونو د جوړښت او کلتور خبره تر څېړني او مقا يسې لا ندي نيوله کېږي. په دې نيت چي د پښتو ژبي په توکميزو ليکنو يا ايتنيکي څېړنو کي د مفهومي ګډوډۍ مخه نيولې سوې وي، نو قريب څه د پاسه لس

www.sikaraam.com

کالـه وړانـدې مـې پـه کـابـل کـې د اقوامـو او قبـایـلـو د وزارت مجلې تـه یـوه لنډ کې مقالـه وکښله او پـه هغې کې مې د لومړي ځـل د پـارهـیـوه داسـې نـوې خبـره را وړانـدې کـړه، چـې بایـد "پـښتـون ـ پیژندنـه" او "پـښتون پوهـنـه" د څیړنـې د بـېلا بـېلـو څانګو پـه بڼـه تثبیت سي. پـه دې لیکنه کې زما عـلـمـي مطلب دا وو، چې مـوږ بـایـد پـه پـښتو څیړنـو کـې هـم ایتنـوګرافي او هـم ایتنولـوجي دواړه سم سـرهٔ و پـیژنـو او بـېلا بـېـل مفـاهـیم یـې پرخپـل ځای بانـدې استـعمال کـړو. بیـا نـو نـه یـم خبـر چـې هغـه لیکنـه څـه سـوه، خـو غـالـب ګمـان مـې دا دی، چـې ښـایـې د اسلامي نـاتـارپـه تـنظـیـمـي بـاډاسکو کـې بـه دا مجـال نـه وي ورتـه بـرابـر سـوی، چې د چاپ مخ و ویني.

پـه هـر حـال کـه مـوږ "ایتـنـوس" پـه تـوکـم سره ترجمـه کـړو، نـو ایتنـوګرافي کېـدلای سـي، پـه "تـوکـم پیژندنـه" او ایتنولـوجي کېـدلی سي پـه "تـوکم پوهـنـه" پـښتو ژبـې تـه واړوو. تـوکم پیژند نـه یـو توصیفي بیـان ګڼـل کېـدای سي، چـې د تـوکم د کلتـوري حـالا تـو او خـصوصیاتو څرنګـوالی ښـیي، خـو تـوکم پوهـنـه بیـا یـو تعلیلـي بیـان بلـل کېـدای سـي، چـې د تـوکم د کلتـوري حـالاتـو او خـصوصیاتو عـوامل او سببونه ښیي. پـه دې حسـاب نـو تـوکم پـیـژنـد نـه د "څرنګـه how" پوښـتنـې تـه او تـوکم پوهـنـه د "ولـې why" پوښـتنې تـه پـه خپلـو څیړنـو او پلټنـو کـې جوابونـه وایـي. د ټـا کلـي مثـال پـه تـوګـه کـه پوښتنـه داسـې راوړانـدې سـي، چـې پـښتـون ولـس څونـه قبیلـې، ټـپـې، خېلونـه، پلرینـې او پـښې یـا ښـاخونه چیـري او څرنګـه لـري، نوسـم

www.sikaraam.com

ټیک جواب یې د " پښتني توکم پېژندني" په توصیفي یا حکایتي بیان سره ویل کېدای سي. خو که بیا پوښتنه په داسي بڼه وسي، چي ولي دونه قبیلې، ټبې، خېلونه، پلریني او څانګي دلته، هلته په یوه یا بله بڼه منځ ته راغلي دي، نو جواب یې د " پښتني توکم پوهني" په تعلیلي بیان سره ویل کېدای سي. په " توکم پېژندنه" کي هرڅوک له خواصو څخه نیولې تر عوامو پوري ټوله خپله ونډه اخیستلای سي. خو" توکم پوهنه" بیا یو مسلکي کار دی، چي یوازي هغه کسان سم په پوهېږي، چي د توکمیزو جریاناتو د پیدایښت، پرورښت او پایښت په طبیعي او تاریخي قانونمندیو باندي یې پوره سد رسېږي.

د دغو څرګندونو په رڼا کي د " هېنری والتر بېلیو" توکمیزه پلټنه تر هغه ځایه چي د بېلابېلو اقوامو نومونه یې ثبت کړي دي، د افغانستان د وګړو توکم پېژندنه ګڼله کیږي. خو دا چي همدا نومونه یې بیا د اروپایي، پرشیایي او هندي اقوامو له نومونو سره تړلي دي زموږ د ګڼ واو ګڼو ولسونو په باب یوه توکم پوهنه بلله کېدای سي. په دې حساب نو د ده څېړنه" دافغانستان د توکم پېژندني او توکم پوهني یوه پلټنه " ګڼله کېږي.

کاندید اکاډیمسین محمد انور نومیالی د تینګهوی کمپ، د ستوهولم ښارګوټی، ډنمارک، ۰۶,۰۷,۲۰۰۰

Reference Number (۱)

Encyclopaedia Britanica , U.S.A. ۱۹۷۰, p. ۷۹۲

Reference Number (۲)

www.sikaraam.com

Group of Authors, A Dictionary of the Social Sciences,U.S.A ۱۹۶۵, pp. ۲۴۵-۲۴۶

* Refer to: E.E. Evans-Pritchard, Social Anthropology , London : Cohen & West, ۱۹۵۱, ch. IV

** Refer to: J.C. Prichard, The Natural History of Man, London: Bailliere, ۱۸۴۳, P.۱۳۲

*** Refer to: Primitive Culture, London: Murray , ۱۸۷۱, Vol. ۱, pp. ۱۹, ۲۳.

**** Refer to: Ethnology, Cambridge: Cambridge University Press, ۱۸۹۶, pp.۲, ۳.

***** Refer to: Radcliffe-Brown, The Development of Social Anthropology, Chicago ( Mimeograph ) , p. ۳۰.

****** See; D. Bidney , Theoretical Anthropology, New York: Columbia University Press, ۱۹۵۳, P. ۱۰۱

******* Refer to: Anthropology, New York: Harcourt , Brace, ۱۹۴۸, p. ۵

# له یوناني ژبې سره د پښتو خپلوي

د بي بي سي له راډیو څخه هغه ادبي یا فرهنګي غونډي پروګرام، چي هلته د پښتو ویندویانو د خپل ذوق له مخې د پیلوزي یا پیلوځي په نامه بللی دی، کله نا کله داسي مطالب هم خپروي، چي د خبرتیا د پاره په اورېدلو ارزي. د روان کال (۲۰۰۶) د میي د میاشتي په ۲۷ نېټه د غه پروګرام د ښاغلي داؤد جنبش په ویندویي له دې څرګندوني سره راپیل

www.sikaraam.com

سو، چې د ښاغلي امان الله غلزي د څېړنې یا پلټنې پر بنیاد یې د پښتو او یونانې ژبې ترمنځ د لرغوني خپلوۍ داسې یادونه وکړه، چې د پښتو ژبې یا د پښتنو د کام هغې پخوانۍ زمانې ته یې فکر ځغلاوه، چې د مسلمانۍ تر راتلو د مخه یې د پښتونخوا له پراخې ورشو سره اړه درلوده. ښاغلي جنبش د خپلو معلوماتو له مخې اورېدونکو ته داسې وښوول چې دا هغه لومړی نوی څرک دی، چې د پښتو او یونانې ژبې د اشتراک په اړه د ښاغلي غلزي په څېړنه کې را سربېره سوي دي.

ما که څه هم تر دې آنه د غلزي صاحب کومه پلټنه یا څېړنه په دې باب چېرې نه ده لیدلې او نه هم په دې پوهېږم، چې آیا د دغې موضوع د ثبوت د پاره به یې د ژبپوهنې یا کلتوري توکم - پوهنې له پلوه خپل تاریخي دستاویزونه راغونډ کړي وي او که به یې د ځینو صوتي او لفظي شباهتونو په رڼا کې همدې لرغونې اشتراک ته خپل علمي پام اړولی وي. خو په هر حال د ده کار او زیار ته په درنه سترګه ګورم او په دې ترڅ کې غواړم زما یو شمېر نیمګړې معلومات له هغو علاقمندانو سره شریک کړم، چې په دغه نوې پلټنه کې د تاریخي بهیر له رښتینو حقایقو سره زیاته مینه لري.

د نن ورځې په روانو شرایطو کې زیات تره داسې لیکنې ما ته په مخه راځي، چې د پښتنو د ایتنیکي هویت یا کلتوري ماهیت پر مبا د یو باندې د یوې یا بلې سویې بېلا بېل لیکوالان په یوه یا بل منظور خپلې راسته او چپه قلم فرسایۍ کوي. خو د دوی لیکنې د غایې او نتیجې په حساب اکثره د

www.sikaraam.com

سیاسي لانجو او جنجالو تر فشار لاندي یوې او بلې خواته په انحراف کې ږ وبېږي. د دې د پاره چې د پښتو او یوناني ژبې تر منځ د اشتراک نا آشنا پدیده د نورو تاریخي مسایلو په څېر د روانو سیاسي انحرافاتو ښکار نسي، نو باید علمي وګړو ته دا خبره څرګنده سي، چې د دغه لرغوني اشتراک یادونه د لومړي ځل د پاره ما د هغه انګرېز مستشرق په اثر کې لوستې ده چې "هېنري والټر بېلیو" نومېږي. نوموړی مستشرق یا ختیځ پوه په خپله هغه رساله کې چې "د افغانستان د ایتنوګرافۍ په باب یوه پلټنه نومېږي" او لومړی ځل په ۱۸۹۱-م کال کي وارد واره خپره سوې ده، پوره یو سل او پنځلس کلونه پخوا په بشپړ صراحت سره داسي کاږي:

پښتو ترجمه

"د دې پلټنې په بهیر کې مې د نورو پېژندنو تر څنګ ځیني اوسنۍ قبیلې چې همدا ګړی په افغانستان کې اوسي، د هغو یونانیانو د اولادې د څرګندوونکو په څېر پېژندلي دي، چې په لرغونې زمانه کې یې پر دې ملک باندي حکومت کاوی. خو دا وخت مې نه دی موندلی چې پر دغه موضوع په دونه زیات تفصیل وږغېږم، لکه څونه چې په ارزي. البته زه باید دلته دا ووایم، چې د دغو یوناني الاصله قبیلو په باب په دې پلټنه کې درج سوي کشفیات داسي نه دي، چې د همدغه بې تفصیله بیان په دلیل نو بې له درنګه تردید سي. ځکه په دې باب که چیري زما د پېژندنو د صحت په اثبات کې د دلیل په توګه کوم شي ته ضرورت سي، نو دا خبره تر بل هر شي یو

www.sikaraam.com

قاطع شاهد گڼل کېدای سي چي د هغي ژبي لغات چي همدا نن ورځ افغاني وګړي د خپلي بومي لهجي په څېر خبري په کوي، تر نیمي اندازي لږ یا ډېر_ بلکي لا ډېر تر لږ - هغه یوناني کلمات دي، چي یا یې لومړنی شکل نه دی بدل سوی او یا که بدل سوی هم وي نو بدلون یې دونه جزیي دی، چي اصل یې په آسانی سره پېژندل کېدای سي"

**English original text**

"In the course of the inquiry, I have, amongst other identifications, identified certain tribes now inhabiting Afghanistan as the representatives of the posterity of the Greeks who anciently ruled in the country. But I have not had time to enter into this subject as largely as it deserves; though I may here state that the discoveries recorded in this Inquiry regarding these tribes of Greek descent are not for that reason to be rejected off-hand. Because, if anything is required by way of proof to substantiate the accuracy of my identifications in this connection, no evidence could be more conclusive than the fact, that the vocabulary of language they at this day speak as their vernacular dialect is to the extent of one half, more or less- more rather than less- either unaltered Greek or Greek changed so little from the original as to be easily recognizable"

Refer to: An Inquiry into the Ethnography of Afghanistan

by H. W. Bellew ۱۸۹۱

www.sikaraam.com

له دې بیانه سره جوخت دا یادونه هم بې ځایه نه راته ایسي، چې نوموړی اثر مې څه د پاسه دوولس کاله وړاندې له انګرېزي څخه پښتو ته را اړولی دی. زما د ترجمې ځیني لړ برخې د "لیمه" مجلې د ۱۹۹۹-م کال د ۱۲ ګڼې د ۲۰۰۰-م کال د ۱۳۱۴ او ۱۵ ګڼې په پاڼو کي تیت او پرک خپرې سوي دي. خو زما په لاس یوه لیکلې کاپي مې د تېري پېړۍ په وروستیو کلونو کي ښاغلي معصوم هوتک ته هم ورلېږلې وه. زما اصلي کاپي اوس دا ګړی د ښاغلی ډاکټر شېر حسن په کاغذو کي له څیرېدو او ورکېدو څخه خوندي سوې ده.

د بیلیو په څېړنو کي خورا جالب ټکي لیده کېږي. هغه نه یوازي د پښتنو او یونانیانو ترمنځ د ژبنی خپلوی بیانونه کوي، بلکي د خېلونو او قبیلو زیاتره پښتني نومونه هم دا رنګه د یوناني قبیلو او را جپوتي خېلونو له نومونو سره پیوندوي. د تاریخي فاکتونو له مخي داسي زیات شواهد لاس ته را تلای سي، چې زموږ د ګڼو ولسونو پر لرغوني سابقه باندي پوره رڼا اچوي. ځکه زموږ د خلګو په باب د هېرودوت مستندي یادوني، آریانا ته د سکندر راتګ، په سیمه کي د یوناني هنر غوړېده، د یوناني لیک کتیبې، بودیزم ته د یونانیانو رجوع او داسي نور ګڼ موارد ټوله هغه عیني منابع دي، چې تر مسلمانی دمخه زموږ د مشترک تاریخ پر هنري او کلتوري خصوصیاتو باندي څرګند د لالتونه لري.

www.sikaraam.com

www.sikaraam.com

# د ملي خپلواکۍ ورځ

په مسکو کې ګڼ شمېر افغاني پردېسان چې د هر قوم، هرې قبیلې، هرې عقیدې، هر مذهب او هرې سیاسي آیډیالوژۍ پر تمین استازي او قدرمن اشخاص یې په منځ کې موجود دي، نن ورځ د دې واحد او سپیڅلي مقصد په نیت دلته را ټول سوي دي، چې د خپلې ګډې مورنۍ خاورې او آبایي هېواد افغانستان د هغو ویاړلو ورځو اتیا یمه سالګره یا نه هېریدونکې خاطره ونمانځي، چې زموږ خلګو د لویې برتانیې له دولتي تابعیته څخه سیاسي آزادي واخیسته او د ملي خپلواکۍ سرلوړي یې په برخه سوه.

د بل له حاکمیته څخه کرکه او نفرت، په ملي سرکښنې کې بې ساري شدت او د حریت د ساتلو د پاره د قربانۍ شهامت زموږ د هېواد د ټولو ولسونو په ختمه کې اخښلي یو تاریخي خصلت دی. زموږ پر وطن که متجاوز قدرتونه راځي یا اهریمني طاقتونه، که ستري زلزلې پر راځي او که غټ طوفانونه، که خونړي انقلابونه پر راځي او که درانه انفلاقونه، که الحادي چپاوونه پر راځي او که اسلامي تاړاکونه خو په داسي ټولو حالاتو کې زموږ دولس دا جاوداني ترانه څوک نسي خاموشه کولای چي:

بندګی ګر شرط باشد زندګی در کار نیست

www.sikaraam.com

زمونږ د مشترکو ویاړونو ورځي په دې ارزي چي ویې نمانځو او جشنونه یې ونیسو. دا کار د ملي روزني یو مهم اصل ګڼل کېږي. دغسې لویي ورځي، د هغو شانداره نمانځني او دغه راز تېولني چي د هیوادني احساس په ایجاب د هر قوم، د هرې طبقې او د هرې مفکورې وطنداران په یوه تالار کي سره راټولوي، په خپله بالذات یوه ارزښتناکه اجتماعي او سیاسي پدیده ده، چي د ملي یووالي بشپړه ځرګندونه کوي.

د خپلواکۍ ورځ چي په انګریزي ژبه کي ډېره وختي تسجیل سوې او تعریف سوې ده Independence Day په نامه یې بولي. دا د یوه هېواد هغه ورځ بلله کېږي، چي ولس یې په همدې ورځ د یوه بل بیګانه هېواد له دولتي حاکمیته څخه خلاص سوی او دځان حکومتي واګي یې په خپل لاس کي اخیستي وي.

دغه شان حکومتي استقلال، یا دولتي خپلواکي او یا ملي آزادي د ولسونو په ژوند کي یوه تشه احساساتي یا مجرده جذباتي خبره نه ده، لکه ځیني شاعران چي یې فکر کوي، بلکې له سیاسي اهمیته ډکه یوه اجتماعي ـ اقتصادي پدیده ده، چي بایـد دوطن هر وګړی یې په ښېګڼه باندي وپوهېږي او په ساتنه یا پالنه کي یې د قربانۍ او فداکارۍ تر حده پوري سر او مال ونه سپموي. همدا دلیل دی چي د خپلواکۍ د جشن په مناسبت، تر تفریحي ساتېریو علاوه، هر هیواد تروسه، وسه زیار باسي، چي د خپل مادي او معنوي انکشاف پرله پسې لاس ته راوړني هر چا ته وړاندي

www.sikaraam.com

کړي او دا حقیقت په ښکاره ثبوت ته ورسوي چې د خپلواکۍ په دوران کې یې رښتیا هم د ژوند مادي او معنوي شتمنۍ تر پخواني دوران زیاتې سوې دي .

دا خبره له شکه وتلې ده چې د افغان ولس سیاسي او دولتي استقلال د روانې پیړۍ په دوهمه لسیزه کې هغه وخت له مقتدرې برتانیې څخه تر لاسه سو، چې د نړۍ ډیر نور اسیایي او افریقایي هېوادونه لا د استعماري واکمنیو تر لاس لاندې وو او دومره واک یې نه و موندلی چې د ځان حکومتي واګې په خپل اختیار کې واخلي. زموږ د خپلواکۍ ستره کارنامه چې په خپل وخت کې زموږ د ټوله ولس د سرلوړۍ یوه شانداره نړیواله پېښه وه ، هر چیري یې د ملي آزادۍ څپانده بهیرونه د مورال او روحیې له بابته خورا ډیر پیاوړي کړه. ددې خبرې د ژوندي شهادت د پاره لږ تر لږه په برتانوي هند کې زموږ د خپلواکۍ د غښتلو اغېزو پر تمین تاریخ ته مراجعه کولای سئ.

خو د خپلواکۍ د ګټلو د پاره زموږ د خلګو ستره مبارزه له نړیوال اهمیته سره یوه د پام وړ سیاسي نقیصه درلوده او هغه دا چې د ملي روحیې یا وطني جذبې پر ځای د غزا او جهاد په مذهبي روحیه تبلیغ کېدله. زموږ عام ولس د استقلال کال د غزا د کال په نامه یاداوه او امیر امان الله خان یې د غازي په لقب نازاوه. په دې حساب یې زموږ میهني عاطفه تر مذهبي عاطفې قربانوله ، زموږ خپل ویاړ یې له موږ څخه بیګانه کاوه او په هغه روحیه پوري یې تاړه، چې موږ ته د غزا له عربي کلتوره څخه راغلې وه، په داسې حال کې چې هم هغه وخت او هم

www.sikaraam.com

اوس لا زیات عربي هېوادونه د غزا او جهاد له اوږدې سابقې سره د غربي هېوادو تر سیاسي او نظامي حمایې لاندې د لږ یا ډېر تابعیت په شرایطو کې ژوند کوي.

دا یوه حسابي خبره ده، چې سیاسي خپلواکي په اصل کې د اجتماعي او اقتصادي خپلواکۍ یوه اساسي وسیله ده. خو له بده مرغه زموږ پر ولس ډېره گرانه خپلواکي له ټوله سیاسي او ملي قدسیته سره زموږ په اجتماعي او اقتصادي ساحو کې د کورنیو یا د باندنیو او یا دواړو عواملو له پلوه خپل تاریخي ثمر ته ونه رسیده.

زموږ که خوښه وي او که مو نه وي خوښه، نن یا سبا زموږ د نوي زماني نسل چې د نړۍ په بیلا بیلو هېوادو کې تیت دی او هلته د انساني ژوند ډېري ترقۍ د سر په سترگوویني، نو هرو مرو زموږ د مقدساتو په اړه د منفعت پوښتنه راپورته کوي او په دې جمله کې له زاړه نسله څخه دا سوال هم پوښتي، چې زموږ سیاسي خپلواکۍ موږ ته کومه اجتماعي او کومه اقتصادي گټه رارسولې ده؟ زه نه پوهېږم چې زموږ پوهان، زموږ رهبران، زموږ مشران او زموږ د سیاست مداریان به دوی ته څه ځواب ورکوي؟ ځکه همدا اوس که موږ د اتیا کلنې خپلواکۍ تاریخ ته یوه لنډه کتنه وکړو او زموږ اوسنی هېواد په ختیځ او لوېدیځ کې د هغو وطنو سره مقایسه کړو، چې تر موږ یې ډېره ناوخته سیاسي خپلواکي اخیستې ده، نو په دې حقیقت مو پوره سد رسېږي، چې هر څوک د ژوند په ټولو ساحو کې تر موږ ډېر د مخه دي او هم د سیاسي شعور په ډگر

www.sikaraam.com

کې خورا تکړه او فعال گوندونه، غښتلي حزبونه، بارسوخه سازمانونه او پیاوړي اورگانونه لري چې خپل مملکتونه د اجتماعي سوکالی او اقتصادي پرېمانۍ په استقامت کې وړاندې بیایي. موږ بېچاره گانو چې هر کله د غلامۍ یا بندگۍ له یوې کړۍ څخه د غاړې د خلاصیدو کوښښ کړی دی، پر ځای یې نورې درنې او ځیږې کړۍ زموږ په غاړه کې لوېدلي دي.

اتیا کاله پخوا موږ لا د خپلې گټلې خپلواکۍ مبارکي نه وه اخیستې چې بیا سمدستي هغه کورنۍ جگړه زموږ پر خلکو تحمیل سوه چې د خپلواکۍ د انکشاف ثمره یې د هغه اوږده اختناق په نتیجه کې را بدله کړه، چې څه د پاسه پنځوس کاله یې د مستعمرو تر سویې لاهم ډېر شاته وغورځولو. د دغه اختناقي دوران له تندي څخه هغه کرغېړنه تپله کورټ نسي پاکیدلای چې ارواښاد پژواک په یوه حکیمانه جمله کې داسې تصویر کړې ده:

زموږ یو عجب هېواد دی، چې په خپله آزاد دی، خو خلک یې بندیان دي! په وروستیو حوادثو کې هم موږ له یوې غلامۍ څخه سر غړاوه، خو په نتیجه کې یې د غلامانو د غلامۍ پنځه، شپږ طوقونه زموږ غاړې ته را اچولي دي. په همدې بده ورځ کې دي لا بیا هم زموږ پر عام ولس باندې شاباسی وي، چې د خپلواکۍ د برم په اتیایمه کالیزه کې لا زموږ د آزادي خاوري دا مسته ترانه له خولې نه اچوي، چې:

www.sikaraam.com

## بندگی گر شرط باشد زنده گی در کار نیست

دم درحاله زموږ د ټولو آزاد منشه خلګو په وړاندي که په هېواد کې دننه دي او که دباندي یو مهم سیاسي - ملي ضرورت همدا دی، چې د خپلواکۍ د ساتلو او پاللو په وطني روحیه کي سره راټول سي او د نړیوالي معیاري ډیموکراسۍ د پخو اصولو پر بنا د یوه نوي انساني افغانستان د جوړېدو په ستره کارنامه کي ګډه او صادقانه برخه واخلي. یوازي له دغي لاري ښخه کېدای سي، چي د خپلي اتیا کلنۍ سیاسي خپلواکۍ په برکت زموږ د ټولني هغه قهقرایي بهیر پوره جبیره سي چې د یو شمېر کورنیو او دباندنیو کشمکشو او جنجالو په نتیجه کي زموږ پر سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او کلتوري مؤسساتو تحمیل سوي دي.

به پیش در راه استقلال وطنی و دیموکراسی واقعی!

د ۱۹۹۹ کال د اګست ۱۹ نیټه

www.sikaraam.com



www.sikaraam.com